شهادت

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

(۱) صفحه

شماره مسلسل (۷۹۷) سال هفدهم ،شماره (۳۵) سه شنبه (۲٤) جوزا ۱۳۷۳ هـ ش (٦) محرم الحرام ۱٤۱٤ هـ ق (۱٤) جون ۱۹۹٤ م — قيمت (۱۰۰) افغاني (۲ روپيه)

برادرحکمتيار واپس به مقرمؤقت صدارت عظمي مواصلت نمود

چهارآسياب - ۲۲ جوزا :

برادرحکمتيار اميرحزب اسلامي افغانستان بعدازانجام سفرچهارروزه به جلال آباد مرکزولايت ننگرهار واپس به چهارآسياب برگشت .

خبرنگارشهادت ازچهارآسياب گزارش داد،برادر حکمتيار صدراعظم کشورساعت پنج عصر روزيکشنبه،باهيئت معيتي شان وارد چهارآسياب مقرمؤقت صدارت عظمي گرديد .

منبع افزود : منسوبين اداري ونظامي حزب اسلامي افغانستان مقيم ولسوالي هاي بگرامي وچهارآسياب، ورود صدراعظم کشوررا خيرمقدم گفته،باگرمي زايدالوصفي ازايشان استقبال نمودند .

په بنګله ديش کي دملحدي تسليمه نسرين دوژلو له پاره دوه نيم زره دالره انعام ټاکل شويدي

ډاکه - دخبرګولي ۲۲ نيته :

دبنګله ديش څخه په رارسيدلي ريپوټونوکي ويل شوي چي يومسلمان مشر داخبره منلي چي دبنګله ديش دليکوالي (تسليمه نسرين) دوژلوله پاره يې دوه زره پنځه سوه ډالره انعام مقررکړي دي .

هغه داژمنه دتيري جمعي په ورځ داسلامي پوهانويه يوه کنفرانس کي کړي ده .

تسليمه نسرين له تيري اوني وروسته چي حکومت دهغي دنيولو امرورکړيدي شوي وه .

هغې ويلي چي ددې له خولي ديوه اخباريه مقاله کي يوه غلطه خبره شوي ده اوداني په لوي غم اخته کړي ده .

خبرياتوي چي دبنګله ديش حکومت نه غواړي چي دڅه مسلمان مشرپرضديوازي داخبارد راپوررونويه اساس څه اقدام وکړي اوغواړي چي دې خپلي خبري په خپله تائيد کړي

ورورحکمتيار دجلال اباد په سپين جومات کي دجمعي دلمانځه دخطبي په ترځ کي :

ځوك چي وايي په افغانستان کي اسلامي دولت قايم شوي ،داسلام سره جفا کوي

(٦) مخ

* ز‌ه داقتدارپه خاطر ديوي قطري ويني توئيدوته تيارنه يم
* ماته ووايا‌ست چي دافغانستان په تاريخ کي کله هم دومره قيمتي راغلي ؟
* متاسفانه چي دتاريخ په اوږدوکي تل په افغانانو کي داسي خلك راولاړشوي چي خپل ملك ،قوم ،دين اوعزت يي دپردیو دپیسو په مقابل کي خرځ کړي
* نن رباني دنجيب خبره تکراروي ،وايي چي که زه له قدرت نه لاس واخلم ،خلا راپيداکيږي
* ترهغه وخته پوري به جهاد ته ادامه ورکوو چي په افغانستان کي دمجاهدينو دخوښي اسلامي حکومت جوړشي
* حقيقت دادي چي مونږ اوس عملاً دقدرت له خلاسره مخامخ يو، بايدداخلاډکه کړو

برادرحکمتيارصدراعظم کشور درجريان بازديد شان ازننگرهار:

مبلغ يك مليون ودوصدو پنجاه هزارافغاني به شفاخانهٔ صحت عامه ننگرهارکمك نمود

جلال آباد - ۲۲ جوزا :

برادرحکمتيار صدراعظم کشور حين سفرشان به جلال آباد ،روز پنجشنبه گذشته به شفاخانه صحت عامه ننگرهار تشريف برده ازمريضان اين شفاخانه عيادت کرده وازخداوند تعالي شفاي عاجل وکامل براي آنهامسئلت نمود.

خبرنگار شهادت به نقل ازيك منبع مسئول شفاخانه گزارش داد :

برادرحکمتيار اميرحزب اسلامي افغانستان ضمن بازديدازشفاخانه وعيادت مريضان ، مبلغ يك مليون ودوصدوپنجاه هزارافغاني پول نقد وپنجصدتخته روجايي به شفاخانه مذکورکمك نمودکه بااظهارسپاسگذاري متقابل ازجانب

ص (۸)

دسوډان حکومتي عسکرو دهغه هيواد په جنوب کي يوه ستراتيژيکه سيمه نيولي ده

سوډان - دخبرګولي ۲۲ نيته :

دسوډان حکومتي قواوي وايي چي دجنوبي سوډان دياغيانو نه ئي جنوبي استراتيژيك سارکاکوکاجي نيولي دي .

ويل کيږي چي دکاکوکاجي دسوډان دخلکودخپلواکي داردودرهبرجان ګرنګ اډه وه .

دغه ښاردسوډان داګواتوريا په سيمه ايزي بندر اوزائرسره دسوډان جنوبي سرحد ته نيږدي پروت دي .

په ريپوټ کي دانه دي ويلي شوي چي ددغه ښاردنيولو په جګړوکي څومره کسان مړه يازويل شوي دي .

شهروندان غزه باردیگرپیمان غزه -اريحا رامحکوم کردند

غزه-۲۲ جوزا:

به گزارش يونايتد پرس روز يك شنبه فلسطيني ها بابرگزاري تظاهرات درشهر غزه باردیگر نسبت به روند سازش ساف بارژيم صهيونستي اعتراض کردند . دراين راهپيمايي تظاهرکنندگان خواستارآزادي بيش از دوهزارزنداني فلسطيني از زندانهاي رژيم صهيونستي شدند.

گزارش خبرگزاري فرانسه حاکيست مقامات فلسطيني اعلام داشته اند ياسرعرفات رهبر اينسازمان اواخر ماه جاري به‌اريحاباز‌خواهدگشت .

رژيم صهيونستي ازعرفات خواسته است در زود ترين زمان ممکن به اريحا بازگردد. عرفات گفته است ،تازمانيکه کشورهاي

ص (۷)

رئيس تعليم وتربيه حزب اسلامي افغانستان درمصاحبه باشهادت :

درامتحان سالانهٔ مدارس ديارهجرت ، بيش از پنجهزار شاگرد شرکت ورزيده است

س : - قرارمعلومات امتحانات شاگردان مکاتب ،مدارس وليسه ها شروع شده ، آيامبتوانيد بگوييد منحيث المجموع چه تعداد شاگردان درمحيط هجرت وداخل افغانستان تحت کنترول شما ، درامتحانات سالانه شرکت نموده اندوهم جريان امتحان راچطور ارزيابي ميکنيد؟

ج : - البته برنامه هاي تعليمي وتربيتي حزب اسلامي افغانستان که برمبناي اصول اسلام استقرار است لوايح ومقررات تعليمي راطوري عيار ساخته تااريکسوباعث رشد سويه تعليمي شاگردان گردد و از سوي ديگر تربيت سالم را درقبال داشته باشد . روي اين، نصاب تعليمي مشخص بوده که درطول يك سال دوره تعليمي تکميل ميگردد . فعلاً در امتحان سالانه مدارس ديارهجرت بيش از پنجهزار شاگرد شرکت

ص (۷)

۸ کشورعضو اتحادیهٔ اروپا نمايندگان شانرادرين اتحاديه برگزيدند

بن - ۲۱ جوزا:

درانتخاباتي که درآلمان براي انتخاب نمايندگان اينکشوردرپارلمان اروپا برگزارشد دموکرات مسيحي هاي اين کشور به رهبري هلموتکول صدراعظم ،اکثريت آراء را بخود اختصاص دادند .

به گزارش رويتر دموکرات مسيحي ها

ص (۵)

کاهش بي رويه ي ارزش افغاني دربازاراسعار

طوريکه هموطنان اطلاع دارند، ازيکهفته بدينسو ،ارزش پول رايج کشورما(افغاني) دربازاراسعاربصورت سرسام آوري تنازل نموده ،چنانکه دراوايل هفته گذشته يك روپيه پاکستاني به ۱۱۰ افغاني ويك دالريه (٤۰۰۰) افغاني دربازاراسعارمعاوضه گرديد، درسه روز اخير باتعويض يك روپيه به ۹۰ افغاني ويك دالربه ۳۲۰۰ افغاني اندکي به ارزش افغاني افزوده شد .

ممکن است تجار،کسبه کاران، متشبثين خصوصي وتمامي اقشاروطبقات کشور ما ازناحيه تنازل بي رويه ارزش افغاني نگران وبهت زده شده باشند، زيرا کاهش ارزش افغاني دربازار اسعار موجب مي شودکه قيمت اجناس وامتعه دربازارچندبرابر شود، مگرتوان خريدوعايد کثرمصرفي جامعه ما (خصوصاً مامورين واجيران دولتي ،خريده خوران، طلاب معارف وکسانيکه مصروفيت غيرتوليدي دارند) به شکل ثابت باقي مانده وتغييري درآن وارد نشود .

اگرچه راديوي ادارهٔ ائتلافي منتشره،جبل السراج ضمن تحليل وتبصره هاي وارونه وگمراه کنندهٔ اخيرخود، عامل تنزيل ارزش افغاني را چاپ بانکنوت هاي جعلي ازسوي مخالفين خويش خوانده،به شيوهٔ دروغين ومضحکه خيز ازچندنفري نام بردکه گويا آنها باداشتن بانکنوت هاي جعلي گرفتارشده اند، ولي حقيقت امراينست که تاحال شوراي هماهنگي يك برگ کاغذرابنام پول چاپ نکرده ونه اينکاردرافغانستان ممکن است . اگر احياناً چنين کاري صورت بگيرد ،به بسيارآساني بانکنوت اصلي ازبانکنوت هاي جعلي تميزمي شودو خيلي مشکل است که بانکنوت جعلي به سرعت بتواند درتنزيل نرخ پول اثربگذارد، يعني اينکاربدون آنکه دربازار اسعاراثروارد‌کند ، درنطفه خنثي شده وپول هاي جعلي فرصت وروددوران درسيستم پولي وبانکي راتمي يابد .

ثبات ارزش پول يك کشوربخود عواملي دارد وتنزيل آن (تورم پولي) هم عواملي، براي حفظ ارزش پول يك کشور چندفکتورلازمي است ،نخست : عامل عمده براي تثبيت ارزش پول، استحکام پايه هاي دولت واستقرارسياسي است.درجريان دوسال وچندماه ترکتازي زمامداران ادارهٔ ائتلافي که استادرباني -- دولت اسلامي اش ميخواند، متأسفانه استقرارسياسي وجودنداشته واصلاً چيزي بنام دولت وجودندارد . نه اردو وجود دارد، نه پوليس ،نه دادگاه ، نه اداره ، نه سرمايه ملي ونه پروژه هاي توليدي ونه هم امنيت وامید آرامش براي سرمايه گذاري هاي خصوصي ودولتي . درهرگوشه وکنارکشورجنگ است، دزدي است، غارت است، ويراني است ، وحشت است ، تجاوزاست وآواره گي، درچنين حالتي که هيچکس توان وفرصت بالاکردن يك خشت ويك بيل خاك را ندارد، چگونه ارزش پول افغاني دربازاراسعارتنزيل نکند ؟

ثانياً عامل ديگرارزش پول دريك کشور،بالارفتن سطح توليداست ، بهرپيمانه ايکه مستواي توليدومحصولات زراعتي ، تجاري،صنعتي ومالداري بالا برود، بهمان پيمانه ارزش پول کشورهم بالا ميرود، زيرا بالارفتن ميزان توليد موجب زيادت اجناس وامتعه دربازارمي شودوبهراندازه ايکه مقدار امتعه

ص (۸)

رئيس جمهور هايتي با اعلام حالت اضطراري گفت :

هايتي باتهاجم احتمالي مواجه است

پورتوپرنس - ۲۲ جوزا :

اميري هنانسنگ رئيس جمهور تحت الحمايه نظاميان درهايتي حالت اضطرار را اعلام داشته ميگويد: اين کشور با تهاجم احتمالي مواجه است .

گزارش منابع خبري حاکيست: وي صبح روز يك شنبه بااعلام حالت اضطرار گفت: به قواي نظامي هدايت داده شده که براي هرگونه اقدام احتمالي آماده باشد . اين اقدام به تعقيب آن رويدست گرفته شد که امريکا تعزيرات راعليه حکوم هايتي شديد تر ساخت ، تارهبران نظامي اينکشوررا به برکناري مجبورسازد . تمام انتقالات مالي بين هايتي وامريکا منع گرديده و پروازهاي تجارتي نيز ازتاريخ (۲۵) جون منع مي شود. امريکا وکانادا از اتباع خودخواسته اند که ازاين کشور خارج شوند . شب شنبه سازمان ملل تحريم نفتي عليه هايتي رابه اجرا درآورد .

ص (۸)

عرفات په راتلونکو لسوورځوکي داريحا سيمي ته روانيدونکي دي

دخبرګولي ۲۲ نيته.

د پي ، ال ،او يوعالي رتبه ماموروايي ياسرعرفات به په راتلونکو لسو ورځوکي د اريحا علاقي ته چي دفلسطينيانو په کنترول کي ده لاړ شي .

دغه تګي نيټه بياد ځرګندکړي چي دفلسطينيانو په اداره کي دکابيني لمړي وزيراودفلسطين دخپلواکي دموسسي درئيس ياسرعرفات ډير نيږدي صلاح کار دي .

(۸)مخ

مقامات سازمان ملل وصليب سرخ جهاني مقيم سرايوو:

اوضاع آرام بوده وآتش بس فراگيرخواهد شد

سرايبو- ۲۳ جوزا:

با وجود آنکه جنگهايي ميان مسلمانان وصربي ها درشمال غرب اين جمهوري روي داده‌است،

چنان معلوم ميشودکه آتش بس مؤقت دربن جمهوري رعايت مي شود.گفته ميشود که اردوي تحت قيادت مسلمانان بوسنيا برخي ازقلمرو هايي راکه صربيها درمنطقه بيهاج اشغال نموده بودند دوباره آزاد کرده اند.

ناظرين ملل متحد ميگويند قسمتي ازبيهاج تحت کنترول فکرت عبديچ رهبر مبارزان مسلمان است که از متارکه اخير پشتيباني نميکند . پنج راکت به شهر بريجکو که منطقه اکمالاتي واستراتيژيك براي صربهابوشمار مي آيد، اصابت نمود . درنزديکي بهاج نيز درگيري جريان

ص (۷)

هند به تل داتومي بم دجوړولو لاردځان له پاره پرانيستي ساتي

نوي ډيلي - دخبرګولي ۲۲ نيته :

دهندصدراعظم ناراسيماراووېلي چي هنداتومي بم دجوړولو لاردځان له پاره پرانيستي ساتي، دهندصدراعظم دغه هيوادد‌واکمن کانګريس ګوند په يوه غونډه کي وويل چي هندبه ... پرانکشافاتو ... نه غورنه وروسته دخپلواتومي پروګرامونويه باب فيصله کوي .

هندپه ۱۹۷٤ عيسوي کال کي يوه اتومي آزموينه کړي وه مګراوس وايي چي هند اتومي وسلي نه لري .

خبرياتوي چي دهند ... ملاحي ... داتومي بم دجوړولو په ... ډيري ... فکرکيږي چي هند ... اتومي وسلو دجوړولو قابليت ... امريکا دواړه خواوي دي ته تشويقوي چي داتومي وسلودخپريدلو ترون لاسليك کړي مګرهند دانغوښتنه ردوي اووايي چي ... حرکت دي چي اتومي وسلي نه لري . مګرپاکستان وايي ترهغي به دغه ترون لاسليك نکړي ترڅوچي هنددهغه لاسليك کړي نه وي .

تورن اسماعيل درمصاحبه باراديوبي بي سي :

ميخواهم شخصا باجناب حکمتيار درمورد طرح خود صحبت کنم

کابل-۲۳ جوزا:

تورن اسمعيل درپاسخ به اين سوال که هدف شما از آمدن به شهر کابل چيست ؟ گفت : چندين ماه است که بالاي يك طرح به خاطرتامين صلح وامنيت درافغانستان وخلع سلاح عمومي کارميکنم . به همين منظوريك هيئت راتحت سرپرستي علاوالدين بامعيت دونفرديگر به پشاور فرستاديم تابامولوي صاحب محمد نبي ، مولوي صاحب خالص وحضرت صاحب مجددي ديدن نمايند و روي طرح با آنها مذاکره نموده توافق آنها راحاصل نمايند. وخودم با سران جهادي که در شهرکابل هستند ديدن ميکنم . فعلاً به همين منظوربه کابل آمده ام . وي درپاسخ به اين سوال که شما بابرادر حکمتيارکه استاد رباني با وي مخالف است، نيز ملاقات خواهيد داشت؛ گفت : ما البته از طرح خود به جناب محترم صدراعظم خبرداده بوديم وهيئت ما با آنها چند بارصحبت کرد، من ميخواهم که شخصاً با آنها ديدن کنم وروي طرح تامين صلح درافغانستان با آنها مذاکراتي داشته باشيم واز آنها دعوت کنيم که آنها هم به شهر هرات بيايند ودرروي آمدن صلح درافغانستان مذاکره کنند.وي در پاسخ به اين سوال که با جنرال دوستم هم ديدارخواهيد داشت؛ گفت: ما تنها با ملت مجاهد وشخصيت هايي که ميتوانند فعلاً دربن شوري شرکت کنند ، مذاکره مينماييم.

پوليس آلمان يك حلقه قاچاقچيان تکنولوژي اتمي راکشف کرد

بن - ۲۲ جوزا:

تلويزيون آلمان ميگويد پوليس اينکشور يك حلقهٔ ديپلومات هاي پاکستاني وتجار آلماني را کشف نمود که درصدور غير قانوني تکنولوژي ذروي اشتغال داشتند .

اين گزارش ميگويد: تجارتوالان آلماني چندين شرکت رادرجنوب آلمان به اتهام صدور، تجهيزات غني ساختن يورانيوم وفروش اجزاي راکت تحت تحقيق قرارداده اند.

گفته شده که آمر يکي ازين شرکت هاتوقيف گرديده وبعداً به ضمانت بالمال آزاد شده است. اين گزارش مي افزايد که مقامات آلماني دوديپلومات پاکستاني رامجبور ساختند که بن راترك بگويند.

سخن روز

په هیوادکې د روانو حالاتو مسئولیت د چاپر غاړه دی ؟

مبشر

دکفري برغل اوملحدینو دیرلاسۍ په وړاندې پاڅون اوپه اسلامي پیژندل شوواشخاصو پسې اقتداء ، کول دوخت اهمه تقاضاوه اوله دې پرته بله چاره هم نه وه چې ددغسې خونړي سیلاب مخه پرې بل لوري لورل شوي واي،جهادي مشرانوهم دخپل اسلامي اوملي مسئولیت په درك کولو سره دې درانه بارته خپلې اوږې ورکړې ځوله یوې خوادخپل خدایې مسئولیت اوله بلې خوادملت دسمې لارښوونې اودغلامې له کړې څخه په ژغورلوسره خپله ایماني اوملي وجیبه پرځای کړې ترهغه وچې دځو ګوندونوتررهبرۍ اومشرۍ لاندې دبهرنۍ تجاوز اودهغوی درونژل شوو داخلي ملحدینواوبرغلګرویه وړاندې دوسلوال جهادسنګرونه تاوده شول اودګران هیوادپه ګوټ ګوټ کې دبهرني اوداخلي تجاوزدلاس لنډوني میدان دڅان، مال اواولادپه وینواوقربانیوپه داسې ګچ ګرم شوچې دنړۍ دسترطاغوتي نظام اوالحاد دمینیانودرسوایۍ اوناپوهي تپوال پیغام یې له ځانه سره درلود .

په جهادي رهبرانوپسې دمؤمن ملت اقتداء دژبنې ،توکمي اوسمتي تعصباتوڅخه پاکه اوداسلامي افغاني اصولو اوخصوصیاتو پرېناپوه سپېڅلي ګروهي اقتداوه چې دهمدې اصولو اواصل په بنااونظرکې نیولوسره مؤمنوافغانانودهغه تاریخ باب پرانیست چې دچاپه خیال اوتصورکې هم نه ګرځیدااوګرداسلامي امت ته یې دنوي ژوند نوې روح وباسه اوله مودومودودرانه خوب څخه یې دویښتابه سترګې وغړیدې

څومره چې مسلمان ملت دخپلوسربښندنووړاندې کول غوښتل تربه همغه اندازه یې دخپلوورکړوقربانیو ثمرې ته هم سترګې پرلاره وواوداپې ارزووه چې له دې سختیواومشکلاتوله ګاللووروسته به خامخادژوندخواړه څکي .

لوي خداي (ج) افغانانو دسخت ازمون شیبې دفتحې دزیرې په سیوري اسانه اوپرخوړلو ټپونوپې دمرهم پټې ولګولې، برغلګري قواوې په رسوا ماتې په شاوتمبول شوې، په هیوادکې دالحادي رژیم په ظلم اباده ماڼې وتړیده اوپه نړۍ کې دکمونیزم دالحادي رژیمونواونظریې دراپرځولوپیلامه وشوه اوټیوال ددغه وحشي دېوله وېرې خلاص شول.

زمورمؤمن هیوادوال دکمونیزم له پرېڅوسره ددغري وهلوڅخه دمه شوي او دارام ساه لاته وه اخیستې چې دپویل تاورین دسمتدرپه ګرداب کې پرېوتل چې د۱۳۷۱ کال دثورمیاشتې راهیسې ترواننه پورې دخپل ځان غوښتنې اوپراقتداریاندې دمنګولو ښخولواوخېتې اچولو داورپه لمبوکې سوزي چې دځوارلسوکلوټولې ورکړې قرباني اوګټلي افتخارات یې دواك دترلاسه کیدو په لوبه کې په ډیره بې ارزښتي اوبیباکې سره دوکړل. ددې پرځای چې په دغوښتنو، وینوبهیدو،مرګ اوژوبله کې نیکنامي ترلاسه شي برعکس دکرکې اوبدنامې ځلي یې اباد کړل . په دغسې اوړکې دملت سوزول دملت ګناه نه بلکې دهغه چامسئولیت اونه بخښونکې جرم دی چې داتیر څوارلس کاله یې په هغوی پسې اقتداء کړې اودهغوی ترمشرۍ اورهبرۍ لاندې دیوسترهدف دترلاسه کولو اوارمان دپوره کیدوپه خاطریې دهرډول مشکلاتوپه وړاندې دپوره زغم اوحوصلې څخه کارواخیست، پوښتنه داده چې دپرون ورځې جهادي مشران ولې نن په هیوادکې دزړه دردوونکوحالاتواوپیسوپه وړاندې په پوره بې غوري بې تفاوته اودنامعلوم موقف اودریځ په خپلولوسره دحالاتوله لیدواوخبریدوڅانونه ناخبره اوسترګې یې پرې پټې کړې دي ؟

که ترپرونه پورې دروسي امپراتورۍ اودپوډي نښتي هیوادو (وارساپکټ) سره دجنګ اومبارزې توان وو اودهغې دشکست اوتابودۍ له پاره ایماني جوړسنګرووانیدونکي نه وونن هغه ایماني سنګرولي بیله کومې مقابلې اوجنګ جګړې ونړیدچې دحق په طرفدارۍ ، دتیرې اوتجاوزپه وړاندې دخپل مقاومت ثبات وښتي .

داسې بریښي چې په روانوحالاتو باندې ځان ناخبره ښودل اوسترګې پرې پټول په جنګ کې ددخپلولوریوله استضعاف څخه په شه ناڅه ترلاسه کړي خودابه هغه خوب وخیال اوبیځایه ارمان وي چې اوښه له ورځه تیرې اولاسونه به مروړي . ځکه له هیوادڅخه دملانصرالدین قلعه چې یودیوال اودروازه یې شته نورکنډوالې پروت دي ورڅخه جوړشوي دي، له هرې لورې دداره مارانولاسونه رااوږده دي اوزموږکنډوالې هیوادته په ډیرې اسانۍ سره راتلای اولاسوهنه پکې کولای شي نوکه پرهیوادحاکمه وضعه اوحالات همداسې روان وي نودیوداسې وضعې دحاکمیدوانتظارپه هم په رالنهیدووي چې داځل به په ډیره سوه سینه دملت پرستوني دخپسې په ځمیریاددبښمنانو منګولې ښخې اوبیایې پرمرۍ چاره راکښل شي چې ددې تولوعواقبودتیرې اواخروي درانه بارمسئولیت به دجګړه مارانوپه غاړه وي چې هیڅوك به یې له دې جرم څخه معاف نکړي .

وماعلینا الاالبلاغ

آیا ښځه د مملکت ...

داداسلام دیوې طالبې په حیث زما ګزارشات دي نورعلما کرام دې په دې برخه کې خپل فرض اداء کړي اودخلکوله ذهنونوڅخه دې داتشویش رفع اولرې کړي

له دې مضمون څخه داڅرګنده شوه چې دښځې حکمراني شرعاً اوعقلاً ناروواده ، ددې دجوازلپاره هیڅ دلیل نشته ، ځکه دښځې حکمراني په قرآن، سنت اواجماع تولوسره ناروا ده .

په قرآن کې الله تعالی فرمایي : الرجال قوامون علي النساء : سړوته په ښځوفوقیت حاصل دي، او همدارنګه فرمایي : وقرن في بیوتکن ولا تبرجن تبرج الجاهلیة الاولي : ستاسو داهل دي په کورکې وي او داولینو جاهلاتوپه څیردې بهرنه ووځي .

دسنت اواجماع په هکله په پورتني مقاله کې حدیث اودامام قرطبي قول ذکرکړای شول اوهمدارنګه رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي :« اذأاوکلتم امورکم الي نساء کم فبطن الا رض خیرلکم من ظهرها » یعني چې کله موخپل کارونه (مملکت) ښځوته ورپارل نودځمکې له مخ نه دځمکې تل درته غوره دي .

حتي علماوو دښځې سره دکوروالي په وخت کې هغه په ځان باندې له پاسه کول دسړي دکرامت منافي ګرځولي ده . نوتاسوسوچ وکړئ چې دښځودحکومت حکم به لاڅه وي ؟

همدارنګه په اسلام کې ښځه دسروامامت نشي کولای حتي وروماشومانوته هم لمونځ نشي ورکولی اوله همدې کبله په لمانځه کې ښځې له وروماشومانوڅخه وروسته صف کې ودریږي دادادي خبري واضح دلیل دي چې کله هغه امامتي نشي کولای نوحکمراني خوپه طریقه اولې سره نشي کولای .

په همدې شکل ټولو فقهاوواوداصولو علماوو دامیر اوحکمران لپاره مخصوص شروط وضع کړیدي چې بو په هغوی کې ناریتوب دی ، چې امیراومشردمملکت به نروي، ښځه به نوي .

اوس که څوك دښځې دحکمرانۍ رواتاپتولو لپاره هرڅومره لاس اوپښې ووهي هغه بغیرله دې نه چې ځان ته دوکه ورکړي بلکه هیڅ فایده نلري .

عربستان سعودي ...

طیارات شمال یمن میدان هاي هوایي را درعدن وموکالا درجنوب شرق یمن بمباران کردند . یك نطاق امور دفاعي نیروهاي جنوب ګفت : خساراتي دراثر این بمباري ها وارد نشده است. موکالا پایګاه سالم البیض رهبر استقلال طلب جنوب یمن بوده است. یك نماینده خاص ملل متحد در صدد آتش بس بوده جهت دیدار باسالم البیض وارد موکالا شده است. ګزارش هاي اخیر حاکیست نیروهاي شمال درحال پیشروي به موکالا میباشند وګفته شده اکنون در (٤٠) کیلومتري این شهر درګیري بین طرفین شمال وجنوب به شدت جریان دارد . ګزارش شده که شهروندان عدن بامشکلات کمبود آب ، غذاءداروبرق مواجه اند.

دقدرت خلا

عبدالشافي

دفارسي متل دی چې وایي "خوې بدبهانه بسیار ، رباني هرېه هو دهمدې متل مصداق ګرځیدلی دي او دامتل په همدې باندې دیرښه ربښتونې کیږي ځکه چې رباني وایي زما په استعفي به دقدرت خلامنځ ته راځي ،

او هیواد به بې سرنوشته پاتي کیږي که درباني دغه دلیل ته لږ غوندې فکر وکړو شي نو دسړي خندا راځي او د بهاني پرته بل څه ارزښت نشي ورکولی ، حقیقت دادي چې درباني په استعفي سره به قدرت کې هیڅ خلا نه راځي ځکه چې هغه قدرت قیادي شوراپاپوداسې چاته سپاري چې دټولو جهادي مشرانو وړباندې اتفاق وي ، په کوم مقام چې رباني صیب ناست دي پر هغه بیابل څوك متمکن کیږي اوخلا له منځه ځي .

که رباني صیب لږ غوندې خپل سرګریبان کې کښته کړي اوخپل وجدان سره قضاوت وکړي نو پخپله به پوه شي چې داقتدارخلا بل چا نه بلکه پخپله دده پیدا کړیده .په اقتداریاندې دتسلط ارلو سره سره بیا هم دقدرت داسې یوه خلا موجوده ده چې هرڅوك ترېنه فریاد کوي ، له هغه نه دستعفي کیدو غوښته له همدې کبله کیدای شي څو دغه خلا ډکه اوپه افغانستان کې د جاري کشمکش مخه ونیولی شي خورباني صیب ته خپل ځان ددې هیواد خردمختارمالك ښکاري هغه دګردافغانستان بقا پخپل اقتدارکې وېني اوداسې فکرکوي چې ګني ددې لرې کیدو سره سم افغانستان هم نه شي پاتي کیدای

او له رخصتي سره به يې جوړښه افغانستان هم ختم شي . که نه نو داڅه بهانه ده چې رباني صیب یې وړاند ي کړي اواستدلال وړباندې کوي، هغه پدې دوه کلن اقتدارکې دافغانستان کومه خلا ډکه کړه په کوم ځای کې یې امن راوست چیرته اودچا خدمت یې وکړ چې دده په مستعفي کیدو داپول کارونه معطل کیږي اوخدا ناخواسته افغانستان له دې نه بل ستر بحران سره مخامخ کړي . اصل حقیقت دادی چې رباني صاحب پخپله یوه لویه خلاده په افغانستان کې دده په وجه جنګ جدل بې قرارۍ اوتفرقې پیداشویدي ټول وګړي هنده نه دملامتي ګوته نیسي اوهرڅوك یې پدې وجه ملامتوي.

چې هغه دافغانستان داباديي داسلام دسرلوړي اودهیوادوالو دښیګڼې فلاح اوترقي له پاره خپل فرض اواسلامي مسئولیت اداکړ، ښکاره خبره ده چې هر هغه زعیم اومشرچې دخپلوهیواد والو دغوښتنو پرخلاف عمل وکړي،

اودځه مقصد له پاره یې چې په کارېې ګمارلي وي اداکړي ،دظلم جبر ،ناروا جنګ جدل قوم پرستي ژبنې اوسمتي تعصبونو ته وده ورکړي اودخلکو داجتماعي ګټوپر ځای خپلو ذاتي ګټونه ترجیح ورکړي هغه بیا ددې حق نلري چې په اقتدارکې د بیا پاتې کیدواصرار وکړي رباني صیب داسلام آباد او جلال آباد دمعاهدې له مخې ددوکلر له پاره جمهور رئیس ټاکل شوي ؤ هغه خپله موده تقریباً پوره کړې فقط یو څو ورځې پاتې دي ، ددوکلو په اوږدو کې چې هغه هرڅه کړي دي پخپله او دافغانستان

وګړوته ډیر ښه معلوم دي ،بکار داده چې رباني په پوره جرأت سره له قدرت نه دلاس په سرکیدو اعلان وکړي اواقتدار یوې بیطرفې مؤقتي اداري ته وسپاري ترڅو هغوي دعمومي انتخاباتو له پاره لاره هواره اوانتخابات منعقدکړي اودافغانستان خلك پخپله خوښه دهیواد مشر انتخاب کړي . دریاني صیب عزت پدې کې دي چې هغه پخپل اقتدارکې دخپلې خوښې دشورا رابللو خبرې اترې پریږدي ځکه چې په داسې کولو سره به لاترو هم دملت په نظرکې بدنیته اوخودغرضه ښکاري چې داسې کړنه پخپل ځان پخپله دخود غرضي ټاپه لګوي رباني صیب دیوداسې ملت سره مخ دي چې آزاد اوخپلواك دي اودا آزادي یې له چا په سوال نه بلکې دلکونو سرونو په بیه ګټلې ده ، دښه اوبد ډیرښه تمیز کولي شي خپل آواز په پوره آزادي ویستلي شي د چا په ناکردو او ناروا وسترګې نشي پټولي اوهرڅه په ډاګه وایي خپل دوست اودشمن دعمل اوګفتار غازیان ډیرښه پیژني هرڅوك دعمل میدان ته راکاږي اودعمل په میدان کې ترېنه کارغواړي.

انتخابات اودخلکو رایو ته رجوع کول داسې یوه تله اومیزان دي چې دیوي دانې وزن اوسپکوالي هم په ډاګه کوي که رباني اوملګري یې په دې مطمین وي چې هغوی پخپل دوه کلن اقتدارکې دافغانستان

دمسلمان ولس خدمت کړي دي اوله دوي نه خوشحاله دي نو بیا ورته پکار دي چې له اقتدارنه لاس په سر کیدواوملت ته دوراندي کیدونه ویره ونکړي داسې آني بهاني اوغلط استدلال دي نه کوي چې ګني دده په مستعفي کیدو دقدرت خلا منځ ته راځي ، ربښتیا خبره داده چې په داسې کولو سره خلاډکیږي اوپه هیوادکې دعمومي انتخاباتو دترسره کیدو له پاره لاره هواریږي .

چې هر څوك دخپل محبوبیت په تناسب رایې ترلاسه کوي څوك چې زیات اعتمادترلاسه کړي هغه به دهیواد مشر توب پرغاړه آخلي .

لدې نه پرته چې هرڅوك له هرې لارې نه خپل ځان دافغانستان پرمسلمان ملت وتپي هغه په ناجایز اود ولس نماینده حکومت نه وي، داسلام دسپڅلي دین حکم همدادي چې دملت مشردي د رعیت پر خوښه منتخب شي ، دڅلورو راشده خلفاوو انتخاب هم دهمدې دلیل واضح ثبوت دي دنړۍ په مهذبوقومونوکې هم همداقانون دي چې ملت دخپلو آراو په نتیجه کې دهیواد مشرټاکي داچې رباني خپل ځان ته داسلامي خوزښت مشر اوځان دلورکچ پوهې خاوند بولي نوبیا هغه په کوم دلیل دیته نه حاضریږي چې دخپلې مودې له ختمولو نه وروسته اقتدار قیادي شورااویا موقتي اداورې ته وسپاري ؟ هغه په کوم دلیل ددې جرئت کوي چې دخپل اقتدارترنظارت لاندې چې خلك یې دیوې ورځې له پاره هم منلو ته تیار نه دي لکه دپخوا پشان یوه تقلبي اوجعلي شورا جوړه اوخپل ځان یوځلې بیا دناروا له

لارې په خلکو مسلط کړي ؟ آیا درباني صیب زړه پخپل دوه کلن اقتدارکې دافغانستان په تباهي اوبربادۍ لاندې بخ شوي دیوې اسلامي ټولنې دامیرمسئولیت خودادي چې هغه دخپل رعیت دښیګڼې اوفلاح له پاره کارکوي خپله یې ونه خوري خو ملت ته یې ورکړي داسلام دوهم خلیفه حضرت عمر رضي الله عنه خودا هم ویلي و چې که چیرې دفرات دسیندپه غاړه کې یوسپې هم له لوږې مرشي دقیامت په ورځ به یې پوښتنه له مانه کیږي خودرباني صیب داقتدار په موده کې ولږه ګزېزده په زرګونو خلك دتوپ راکټ اودبمونو خوراك شول په زرګونو خلك دهیواد پریښودوته مجبورشول، په سلګونو ښځې اوځوني بې عفته کړای شوي اوزرګونو خلك معیوب اومعذورکړای شول ، رباني صیب چې درسول الله صلي الله علیه وسلم احادیث یې لوستي دي اباداپې ترنظر ندي تیرشوي چې هرهغه امیر چې دخلکو خوښ نه وي دخداي له رحمت نه محروم دي ! اوهرهغه څوك چې دخپل ځان د پاره اقتدار اوچوکۍ وغواړي الله پاك دهغه مرسته نه کوي دافغانستان مسلمان ملت غوښتنه داده چې رباني صیب دې دالله اودرسول په لارې سم شي که نه نوددې ټولو پیښو مسئولیت اوعواقب به دده په غاړه وي ،په دنیاکې به دولس محاسبې اوپه آخرت کې به دخداي له عذاب اوملامتیا نه خلاص نشي دالله جل جلاله ارشاد دی چا چې یومثقال اوذره نیك عمل اوبدعمل کړي وي په ورځ دقیامت کې به وورسره دټولو حساب وکتاب وشي .

ضمایم سري متعلق به معاهده دایمي خود مختاري داخلي فلسطین که از طرف اسرائیل وسازمان آزادي بخش فلسطین به امضا رسید

مترجم: عبدالواحد نهضت "فراهي"

ضمیمه شماره ۱ :

همکاري دربخش سیاسي :

۱- سازمان آزادي بخش فلسطین موجودیت دولت اسرائیل وحق ملت یهودرابرسرزمین فلسطین برسمیت میشناسدومقابلتاً اسرائیل سازمان آزادي بخش فلسطین رابه حیث ممثل ونماینده حکومت خودمختارانتقالي براي فلسطینیان درآینده بعدازتدویرانتخابات شکلي وظاهري برسمیت میشناسد .

۲- سازمان آزادي بخش فلسطین تمام تبلیغات خصمانه ووسائل ارتباط جمعي ورسانه هاي ګروهي خودرابرضداسرائیل متوقف میګرداند،همچنان تعهدمیسپارد تاکلیه فعالیتهاي سیاسي ونظامي فلسطیني راکه هدف ازآن محوویراني و قتل اتباع اسرائیل است متوقف وساحه را از همچو عناصر وکوششهاپاك وتصفیه نماید.

۳- سازمان آزادي بخش فلسطین تعهدمیسپارد والتزام میکندتاازجان اتباع اسرائیل که درغزه واریحاوسائر شهرهاي یهودلواسامره مشغول کارند حمایت وحراست نماید، سازمان آزادي بخش فلسطین درراء اعمارمناطق یهودي نشین که زیرنظروموافقه حکومت انتقالي فلسطین و داراي خودمختاري داخلي است موانع ایجادنمیکند .

٤- اسرائیل التزام مي نمایدتاحکومت فلسطین راکه واجد خودمختاري داخلي است درطول مدت زمان خودمختاري داخلي کمك هاي مالي وسیاسي نماید.

٥- حکومت انتقالي فلسطین که حق آزادي داخلي دارد نمیتواند درخلال سال هاي خود مختاري داخلي هیچ نوع عمل سیاسي رادربعد خارجي انجام بدهدویادرخارج سفارتخانه هاباز کند . سفارتخانه هاي موجود رادرهرجاکه باشد مي بندد. ممکن است میان دوطرف معاهده موافقه شودتافلسطینیان براي اداره وپیشبرد امورمردم فلسطین توظیف ګردند والبته این اداره منحصر به مناطق خودمختاري فلسطین ونیز شامل فلسطینیاني میګرددکه دردولت قلمرو اسرائیل اقامت دارند .

٦- تاسیس وایجاد حکومت فلسطیني داراي حاکمیت سیاسي واداري مستقل جواز ندارد . هم چنان چاپ بانکنوت هاوپاسپورت مستقل بنام فلسطین مجازنیست .

۷- فلسطینیان مقیم غزه واریحا میتوانند ازپاسپورت هاي اسرائیلي استفاده کنند. البته درین پاسپورتهابه فلسطیني بودن حاملان آنها اشاره بعمل مي آید .

۸- اعضاي حکومت خودمختاري انتقالي فلسطیني پاسپورتهاي خاص اسرائیل راکه در آنها به تابعیت فلسطیني شان اشاره میګردد با خودحمل خواهند کرد .

۹- سازمان آزادي بخش فلسطین ویاحکومت انتقالي درطول پنجسال خود مختاري اش نمیتواند پناه ګزینان فلسطیني ویا کساني راکه به اردن، سوریه ، لبنان ومصر آواره وپناهنده شده اندعوت نمایدتا به فلسطین بازګردند،هم چنان هیچ یك فلسطیني یي که اموسیاسي ویانظامي خصمانه رادربرابر دولت اسرائیل پیش برده است ، براي بازګشت به فلسطین دعوت شده نمیتواند مګراینکه سازمان امنیتي فلسطین حسن سلوك اوراتائید وتصدیق نماید .

۱۰- حکومت اسرائیل صلاحیت دارد تا هرمعاهده راکه میان حکومت اسرائیل وفلسطین انعقاد یافته است حینیکه بخواهد فسخ وباطل اعلام نماید. خاصتاً وقتي حکومت اسرائیل تشخیص بدهدکه مصلحت و منفعت سیاسي وامنیتي اسرائیل بامعاهده مزبورهم آهنګي ندارد ویامسبب وعامل ناآرامیهاي ګردیده که زیراداره آوردن آن مشکل است به چنین فسخي مبادرت مي ورزد .

ضمیمه شماره ۲ :

همکاري دربخش امنیتي :

۱- سازمان آزادي بخش فلسطین ویا حکومت خودمختاري انتقالي فلسطین حق ندارد باایجاد اردوي فلسطیني بپردازد، عهده داروتکفل پاسداري ازسرحدات، سربازان اسرائیلي اند .

۲- سربازان اسرائیل متصدي ومسئول حفظ امنیت مناطق خودمختاري فلسطیني دردولت اسرائیل اند .

۳- فلسطینیان حق ندارند درجریان خود مختاري سلاح آتشین راباتمام انواع آن ویا موادمنفجره ،مضره وخطرناك براي انسان بشمول مواد کیمیاوي وزهرناك وروشني افګن راباخودحمل ویانګهدارند مګراینکه پیش ازحمل آن موافقه مقامات امنیتي اسرائیل رابدست آورده باشند .

٤ - امنیت داخلي مناطق خودمختارفلسطین راپولیس فلسطین برعهده میګیرد. ولي این پولیس معاش واسلحه خویش را ازوزارت داخله اسرائیل ازطریق حکومت خودمختارانتقالي فلسطیني بدست میآورد، پولیس فلسطیني وفق لوائح ونظامنامه هاومقررات داخلي پولیس اسرائیل عمل ورفتارمینماید.

٥- سازمان آزادي بخش فلسطین ویاحکومت انتقالي فلسطین حق ندارد بایجاد سازمانها، احزاب ویاتشکیل سائرجنبش هاي فلسطین بپردازد که هدف ازآنهاویراني اسرائیل و کشتن اتباع اسرائیلي باشد سازمان آزادي بخش فلسطین تعهدمي نمایدتاکلیه کوشش هاي آشکارونهانرا بخاطرایجاد سازمانهاي دهشت افګنی فلسطین محرومتوقف بګرداند .

٦- اتباع مناطق خودمختارحق ورود بمناطق وسرزمین هاي اسرائیل راندارند، مګر اینکه ازطرف وزارت داخله اسرائیل ویاسائر مراکز امنیتي آن اجازه نامهٔ خاصي بدست بیاورند .

۷- حکومت اسرائیل میکوشدتااعضاي حکومت خودمختارفلسطیني وسائرمردم فلسطین را درمناطق خودمختارداخلي از تجاوزات خارجي ویاداخلي ګروههاي یهود مخالف معاهده محفوظ ومصئون نګهدارد .

۸- سازمان آزادي بخش فلسطین ویا حکومت انتقالي خودمختارفلسطین تعهد میسپارد، تاالست نامنویس ګروه هاي دیني وغیره دسته جات مخالف معاهده" اسرائیل وسازمان آزادي بخش فلسطین رابعدازمرورسه ماه ازامضاي معاهده بسپارد و فعالیت هاي شانرا زیرنظربګیرد .

۹- سازمان آزادي بخش فلسطین ویا حکومت خودمختارفلسطین دردوره انتقالي تعهد میسپارد ، تافعالیت کلیه ګروه ها و سازمان هاي دهشت افګن را درمناطق خودمختار غیرقانوني ومنحل اعلام کرده،اسلحه" شانرابه مقامات امنیتي اسرائیل تسلیم وازاماکن پنهان نمودن اسلحه معلومات ارایه نماید .

۱۰- حکومت اسرائیل تعهد میسپارد تا امنیت رجال قیادي وهیئات رهبري سازمان آزادي بخش فلسطین راکه آرزومند اقامت در اسرائیل ویادرمناطق خودمختار باشندګرفته وازجان آنهاحراست نماید .

ضمیمه شماره ۳ :

همکاري دربخش اقتصادي ،تجارتي ومالي :

۱- حکومت اسرائیل درمورد تقویت بنیه اقتصادي مناطق خودمختارفلسطین پابندومتعهد است .

۲- حکومت انتقالي خودمختارفلسطیني براي تاجران وکارګران اسرائیلي اجازه میدهد تادرساحات تجارتي، صنعتي وساختماني مناطق خود مختارسرمایه ګذاري کرده وپروژه هایي را سردست بګیرند .

۳- حکومت اسرائیل مبالغ خاصي راکه براي اعضاي حکومت انتقالي مناطق

ص (۷)

اسلامي تحریکونه اومستقبل یې

زیاره : محب الله صافي دوهمه برخه

نوموړي جبهې په تنظیمي لحاظ سوداني ټولنه په دري برخو ویشلې ده . یوه برخه هغه خلك دي چې موجه تحریکي دي - اوداخوان لري ده - په فکراونظر اواخلاقو اوکردارکې داخوان واضح نښې لري - دغوخلکو په اصل کې دسوداني ټولني قیادت په لاس کې اخیستې دي - دوهمه برخه عام مسلمانان دي چې په هغوکې د لږ اخلاقو اوکرووږښتنان هم شته اوضعیف کردارښتنان هم - په دیني اوسیاسي تنظیمونو پورې تړلي خلك هم شته اودعلم اوهنر په ټرې پورې هم - لومړي ګروپ ددوهم ګروپ سره دمیني اوورورګلوي اړیکي ټینګې کړیدي په خپلو ټولو چاروکې دهغوی د احساساتو لحاظ ساتي ، دهغو سره په بیلابیلو سطحو باندې دصلاح مشورې نظام یې هم منځ ته راوستی دي اوډیردې ترشاپي دبنې اواخلاقې روزنه هم کوي - دریمه ډله هغه سوداني دي چې دبیلابیلو ، صوفیانه ، قبایلي ،اوژبني کلتوروټانګي کوي - اسلامي تحریك دغه کلتور دقومي میراث په توګه منلی ددې پرځای چې خپل حریف یې وبولي له ځان سره یې ملګري کړیدي اوداسلامي نظام دقیام لپاره یې دهغوی مرسته ترلاسه کړیده - ډیره ممکنه ده چې دوخت په تیریدوسره دغه کلتور دخپل جاهلي شکل اوصورت نه په خلاصون سره داسلامي روایاتو شکل ځان ته ونیسي پدې ډول دسودان رنګه شوې ټولنه اسلامي تحریك یوه نوي پړاوته داخله کړیده

اود "ملي دفاع" دپروګرام له لارې په ټول ملت کې دجهاد روح پوکولی شي .

دمالیزیااسلامي ګوند هم دسیاسي جدوجهد اوانتخابي سیاست له لارې دقیادت دتبدیلي کارکوي - دمالیزیا له دیارلسو فدرالي ریاستونو څخه په یوه کې یې د ۱۹۹۰ په انتخاباتوکې داکثریت په ترلاسه کولو سره خپل حکومت جوړکړي دي - داد"کلنتان" ریاست دي . دلته دریاستي شوراټولي نه دیرش څوکي دي - اسلامي ګوند دزیاترو څوکیو په ګټلو سره دوه تووګوندونه له ځان سره ملګري کړي دي - "پرجاسا" ګوند او" تنکوغزالي " ګوند چې په اصل کې د " امنو" (مرکزي فدرالي واکمن ګوند) نه جلا کیدونکي یوګروپ دي اوخپل ځان ته اصلي " امنو" رایې - داسلامي ګوند حکومت په ډیر بریالیتوب سره مخ په وړاندې روان دي - پداسې حال کې چې د" امنو" حکومت او"کلنتان" دحکومت ترمنځه سخت کشمکش روان دي " امنو" دسیکولرژم پیروي او " کلنتان " حکومت داسلامي شریعت دتنفاذ لاره غوره کړیده .

اسلامي ګوند چې کوم تکتیك اختیارکړیدي هغه دمالیزیاد ټولنیزو حالاتوله مخې ډیرمناسب دي - هغه خپل دعوتي کارهم په ټولو ریاستونو کې جاري ساتلي دي - مګردخپل سیاسي اغیزاو نفوذ لپاره یې هغه ریاستونه ټاکلي دي چې په هغې کې دجیشیانو ، هندوانو اوعیسایانو په مقابل کې دمسلمانانو درونداکثریت دي - دمثال په توګه کلنتان بیاترانګانو ، پرلیس ،قدح ،پیراك اوجوهور، اسلامي ګوند پدې ترتیب سره خپل سیاسي کارمخ په وړاندې بوتلل غواړي - په کلنتان کې چې دخپل کار کومه نمونه وړاندې کړیده د هغې اغیزې په نوورو ریاستونو باندې هم لوېږي - دګوند انتخابي نظام ددعوتي نظام یوه برخه ده . په مالیزیاکي دفدرالي شورا ټولي (۱۸۰) څوکې دي چې دنفوسو په لحاظ په بیلابیلو ریاستونوباندې ویشل شوي دي - انتخابي حلقوته په سیمه ایزه ژبه کې " ګواسن " ویل کیږي - اسلامي ګوندخپل دعوتي نظام هم د"ګواسن " په بنسټ دروليي دي - دهغې فرعي څانګه " پولینګ ستیشن " (د راي اچولو ځای دي) - اودراي ورکوونکو فهرست ددعوت حلقه ده .

دهر غړي په لاس کې تردغه وخت پورې دووټ ورکوونکو مستحقینو فهرست وي چې دهغې سره سم هغوی خپل ټول دعوتي اوتربیتي پروګرامونه جوړوي اوجاري کوي.

اسلامي ګوند په مالیزیا کې داسلامي نظام پلوي اومخکښ دي .

په مالیزیاکې مسلمان نفوس څلورپنځوس فیصده دي - داوېرېجلي حالت دي - همداوجه ده چې اسلامي ګوند له نامسلمانانو په ځانګړي ډول له چینایي مشرانو سره خبرې اترې شروع کړیدي .اوددې پرځای چې دجهاد نښه یې وګرزوي ددعوت هدف یې ګرزولي دي.

همداوجه ده چې چیني نژاده خلك ډله دله داسلام حلقې ته داخلیږي .

ددین ټولنه په ټوله معني قبائلي اودکورنیو په نظام پورې ترلي ده.ددین اسلامي تحریك تریووخته پورې ددین په قبایلوکې خپل دعوت خپراوه.په قبائلي نظام باندې دتنقیدپه ځای له یوې خوایې دقبائیلي مشرانو خپل ځان سره دملګري کولو کوشش وکړ.

اوله بلې خوایې دښوونې اوروزنې له لارې دهغوي نوي نسل خپل لوري ته متوجه کړ د ۱۹۹۳ په انتخاباتوکې چې دشمال اوجنوب له اتحاد نه وروسته لومړي انتخابات شویدي تحریك په بواځې ځان میدان ته دکو زیدلو په ځای په خپل قیادت کې یومحاذ تشکیل کړ دا محاذ دګوندونو نه بلکه دپرګنواوقبائیلو دي همداوجه ده چې دغه محاذ ته دجبهې په ځای دټولنې نوم ورکړي شویدي یعنې "داصلاح لپاره یمني ټولنه " دمحاذ مشري داسلامي تحریك پخواني پلوي اوداحمر قبیلې مشر عبدالله حسین الاحمر ته سپارل شوي ده . د ۱۹۹۳ کال په انتخاباتوکې اسلامي محاذ له یوسلودرې څوکیونه اته شپیته څوکې ګټلې دي اودیمن ددوهم سترسیاسي ګوند حیثیت یې ترلاسه کړي دي - اودمخالفینو په قطارکې دکښیناستو په ځای یې له اکثریتي ګوند ملي کانګرس سره چې مشري یې دیمن درئیس جمهور عبدالله علي صالح په لاس کې ده اوله سوسیالست ګوند سره چې په جنوبي یمن پورې اړه لري په ځواساسي اصولو باندې روغه جوړه کړیده .اوددې روغې جوړې له مخې دخپل ځان لپاره شپږوزارتونه اودملي شوراپه ریاست سرپیره دپنځه کسیزې صدارتي شوراغړیتوب هم لاس ته راوړي ده .

داسلامي محاذ مشر دملي شورا ریاند ټاکل شوي دي اود اسلامي تحریك څواکمن مشر عبدالمجید زنداني دصدارتي شورا رکنیت په غاړه لري - دغې پالیسې دیمن په دیني حلقو کې نه یوازې داچې د بوالي قضا ."منځ ته راوستې ده بلکه داسلامي تحریك لپاره یې هم دېرمختګ دېرې دروازې خلاصې کړیدي.

دتجزیه لیکونکو خیال دي چې دسودان مالیزیا اودیمن اسلامي تحریکونو د" نیوورلډآردر" په پام کې لرلو سره چې دځان لپاره کومه پالیسي اوتکتیك اختیارکړیدي هغه انتهایي ګټوردي - ددې حکمت عملي ټول داورمدار دتحریکونو په اجتهادي صلاحیت پورې ترلي دي . په بدلیدونکو حالاتوکې تحریکو،نه په خپله پالیسي بیانظر واته چوي نومثال به یې دهغه زلمي په څیر وي چې په ځواني کې دخپل ماشومتوب دکمیس په اغوستلو پسې خپل کوي .

نصب العین تغیرنه منونکي دي :

داخبره ښکاره ده چې اسلامي تحریك چې کوم نصب العین دځان لپاره ټاکلی دي ادامه لري

دواقعیتونو په رڼاکې :
په هیوادکي نوی فاشستي خوځښت

سیداسحق

دوه کاله کیږي چې پدې تاریخي اوعظمت څخه ډک هیواد کې تش په نامه اسلامي دولت جوړشوي ولې پدې دوه کالو کې دکابل په ښارکي دومره بې ګناه قتلونه چور اوچپاول، بې عدالتي اوداسې په زرګونه نور فجایع وشول چې ساري نلري.

هغه څوك چې انساني عاطفه اوبشري ترحم ولري اودکابل ښار دغه اوسني ورانۍ اوفجایع وګوري نو واقعاً به بې زړه وددربږي اودغم په جټو کې به ډوب شي.

دافغانستان خلك دتیرکمونستي رژیم څخه په تنګ شوي او ان تر پوزې رسیدلي وو، د یو اجتماعي عادلانه رژیم غوښتنه یې کوله او پدې عقیده وو چې دلته بې ګناه خلك په تیرو څوارلسو کالو کې ډیر زیات ځوریدلي اوبې عزته شویدي ګوندي ددوي په زخمونو به پټۍ کیښودل شي ولې دغه ارمان اوغوښتنې یې کوم ځاي ونه نیو اودڅوارلس کالو ظلمونو وروسته بیا هم یوه ډیره اوږده اوپه غم لړلې تراژیدي وو په برخه شوه.

برهان الدین رباني اواحمد شاه مسعود دافغانستان اصلي دښمنان دغه دتعصب اوعقدو څخه ډك عناصر دافغانستان دورانولو اصلي عاملین اودیکتاتورین ګڼل کیږي.

ددوي د اقتدار په دوره کې له اعمالو څخه یې داسې معلومه شوه چې ددوي اسلام نه بلکه کومه بله لاره تعقیبوي او هغه لاره اوس ټولو ته څرګنده شوي ده چې دستمیانو اصلي کړنلاره ده. ددوي وکولاي شول چې ستمیان - شعله یان دخلق دپرچم او نورو تنظیمونو څخه خپل افراطي ملګري راټول کړي اویه مجموع کې یې تري یوه فاشیستي ډله جوړه کړي دغه فاشیستان یې په جمعیت اوشوراي نظار کې سره متحدکړل په دولت کې یې ټول حساس اوکلیدي پوستونه ددوي ته وسپارل. په وسله والو قواو او کلتوري چاروکي پوره پوره اقتدار اوصلاحیتونه ورتفویض کړل.

رباني اومسعود داقتدار په لمړیو وختونو کي دغه وسله والو قواو اوفرهنګي حلقو ته دپښتنواوپښتنو دفرهنګ اوکلتور دورکیدو او محوه کیدو دقیق پلان ورکړ اولارښوونه یې ورته وکړه چې دپښتنو دبې اتفاقي څخه ګټه پورته کړې اوپښتنو دوه نیم سوه کلنه واکمني ختمه کړي.

اوهمداسې هم وشول څینې پښتنوتنظیمونو خپل منځ کې بې اتفاقي او دښمني پیل کړه اویه مجموع کې نورخواره واره پښتانه لاتراوسه دربانی اومسعود ددې نظر اوکینې څخه خبرندي نو همداعلت وچې جمعیت اوشوراي نظار وکولاي شو چې دکابل ښار دخپل تسلط لاندي راولي او پدې مورد کې په لومړیو وختونو دځو نورو اقلیتونو نظر اوعمل هم ورسره ملګري واوس تاسو کولاي شي چې په پوره دقت سره وګوري چې دکابل په ښارکي یوه لویشت ځاي هم دپښتنو دپاره نشته چې حاکمیت پري وکړي یعني دکابل په ښارکي پښتانه په عامه نظم اوامنیت کې کوم نقش نلري او ځانونه دکابل په ښارکي بیګانه احساسوي دکابل په ښارکي هره پوسته کولاي شي چې پښتانه په هرنوم ونیسي اوخپل شوم اهداف پري تطبیق کړي او همداسي ډیرمثالونه شته چې دکابل ښار کې په پښتنو څومره ظلمونه وشول ددې ظلمونو څخه هیڅوك سترګې نشي پټولاي.

دي وضعې رباني اومسعود پرځان ډیرمغرور کړل اودهتلریزم فکرېي په مغزوکې لا پسې قوي شو فکر یې وکړ چې پښتانه خو اوس دمحوه کیدو په حالت کې دي نو په ډیر غروریې بیا دهزاره ګانو سره جګړه پیل کړه ځکه هزاره ګان هم محوه کړي نوځکه یې دتلویزیون دغره اودتوپ دغونډۍ څخه په دشت برچي اونورو هزاره میشته سیمو توپونه - ټانکونه اوراکټونه استعمال کړل اوحتی دطیاري پواسطه یې زیات ځایونه بمباري کړل چې ددې جګړو په نتیجه کې یې دشت برچي - قلعه شاده - کارته سه کارته چهار - کارته سخي - افشار - دهمزنګ اوداسې نورځایونه دخاوروسره برابرکړل.

دربانی اومسعود (جمهوررئیس اوددفاع وزیر په حیث) فاشیستي قواوو دکابل ښار بمباري کړ، زورښار اوچنداول یې وران کړل او ددې ښکاره بمباري څخه یې چې دکابل ښاریان شاهدان دي ځانونه نشراي بري الذمه کولاي نو ځکه یې دراډیو تلویزیون له لیاري اعلان خپورکړ چې زمونږ پیلوټانو سهواً ښاربمباري کړیده.

ددغه بمباري او راکټونو دحملي له ویري ډیرهزاره ګان اواهل تشیع دچنداولو په تکیه خانه کې چې یومقدس ځاي دی پټ شول ولې هلته هم دربانی اومسعود وفاداره فاشیستان ورغلل اودپټرولو په ذریعه یې دغه تکیه خانې ته اور واچاوه.

چې یکې ښځې - کوچنیان اوسپین ږیري یې په ډیره بې رحمي سره پکې وسوځول.

دغسې سوځول روسانو هم کړل [illegible] چې [illegible]سانو په لقمان کې خلك جومات - راټول [illegible] او جوماتونه یې اوراچولي و ځوك چې به له جوماتونه څخه بیرون تښتیدل نو کلاشینکوف په لاس ولاړو عسکرو به په هغوي ضربه کوله اووژل به یې.

رباني اومسعود دخپلې انحصاري پالیسي پر اساس دهزاره ګانو دځپلو څخه وروسته بیا دازبکانو په ضد شروع وکړه اوهغه جنرال دوستم چې رباني به ورته مجاهد کبیر وایه اوکله به یې دجمهوري ریاست کفیل هم ټاکه اوددفاع دوزارت معاون یې هم مقررکړي و دهغه څخه یې پخپله ګټه کار واخست اما اوس چې دجنرال دوستم په وجودکې ددوي انحصاري اوفاشیستي ګټې نشي تامیندلاي نو ځکه یې پر هغه اونورو ټولو ازبکانو جهاد اعلان کړ. دازبکو سره یې هم دپښتنو اوهزاره ګانو په ډول دښمني شروع کړه.

لکه څنګه چې رباني اومسعود دپښتنو - هزاره ګانو اوازبکو سره دهغوي دمحوه کیدو په خاطر وسله واله جګړه پیل کړه همدا ډول یې ددې هیواد دټولو ملیتونو دفرهنګ اوکلتور دمحوه کولو لپاره هم ډیري ژوري هڅې پیل کړي دي داطلاعاتو اوکلتور په وزارت کې یې ډیر فاشستان ځاي پر ځاي کړیدي همدارنګه د راډیو تلویزیون اوسینما توګرافي په ریاست کې یې ډیر متعصب پنجشیري اوبدخشي فاشیستان دنورو ملیتونو دفرهنګ دمحوه کیدو په منظور مقررکړیدي.

دکابل ښاریان په پدې شاهدي ورکوي چې رباني اومسعود پدغه خپله دوره کې پخپله ګټه دسینماتوګرافي له لیاري نوي فلمونه جوړکړیدي چې پکې دجمعیت نقش داسې ښودلی چې ته به وایې په افغانستان کې کوم بل جهادي تنظیم هیڅ وجود نلري.

بوازې جمعیت دي چې روسان یې له افغانستان څخه ویستلي اود جهاد ټول افتخارات جمعیت ته منسوب دي.

پدې نوي فلمونو کې پنجشیر ډیر جګه اوبارز مقام لري دفلمونو محتوا داسې ده چې افغانستان کې مبارزین بواځې بدخشانیان اوپنجشیریان دي اومسعود دفلم دهیرو په شکل څرګند او لوي قهرمان ښودل شویدی.

له بلي خوا که دفلم له ساحې څخه راډیو تلویزیون ته ورتیرشو نو هلته به وګورو چې د هیواد دمختلفو ملیتونو دفرهنګي شتمنو سره څه لوبي شویدي له کوم وخت څخه چې رباني دقدرت واګې په لاس کې نیولي له همغې ورځې دهر ملت فرهنګ یې په لته وهلي دي په تلویزیون کې دهزاره ګانواوازبکو خپرونه محوه شویده په همدي ډول حتی دپښتو عنعنوي خپرونې چې دپښتنو په فرهنګ کې دلوړې حماسي ښکارندوي دي په تلویزیون کې نه ښودل کیږي.

دپښه یانو - نورستانیانو - ترکمنانو پروګرامونه له منځه تللي دي همدارنګه دبلوچانو پروګرام چې تقریباً دځلوریښت کالو راپدیخوا په راډیو کې خپریده اوس یې هغه پروګرام له منځه وړي اوپر ځاي یې یو ازبکي پروګرام چې ازبکان پکې ټکوي اوبلفردورته وایي پیل کړیدي.

په مجموعي توګه ویلی شو چې رباني اومسعود دخپلو فاشیستي ډلو په ذریعه چې په راډیو تلویزیون کې وظیفه لري دافغانستان دټولو استرګني ملیتونو پروګرامونه له منځه وړي دي.

کله چې به مادکابل دتلویزیون پروګرامونه لیدل هغوکي دهیڅ ملیت دپاره کوم پروګرام نه و غالباً مونږ داسې فکر کاوه چې رباني خوپرقوي مسلمان دي نووایي چې موسیقي په اسلام کې ناروا اوحرامه ده.

نوځکه موځانونه قناعت ورکاوه اما کله چې رباني تاجکستان ته په سفرلاړ اوبیا یې دده دسفر فلم دکابل دتلویزیون له لیاري کابل ښاریانو ته وښودل شو پدغه فلم کې د کابل ښاریانو ولیدل چې یوډیرمهرون دڅا اورقص محفل ددوشنبي په ښارکې ده ته جوړشوي وواویه هغه محفل کې ډیري ښکلي تاجکي نجوني ګډیدلي اورقصونه یې کول تاجکانو رباني ته شنه چپن اوتاجکي خولۍ اغوستي وه ملایې ورته دګل سیب په دستمال تړلې وه.

او استاد رباني دغه رقصونو ته په مینه خوشاله ولاړو اوخو له یې له خنداني نه راټولیده ددغې مهرني موسیقي اورقصونو څخه وروسته دتاجکانو کلاسیکه اویخواني موسیقي شروع شوه چې بوډهسري چپن اغوستي وه تنبوره یې وهله اوبل دیرخ عمر سړي ورسره چنبه یاداېره ټنګوله اوتاجکي سندري یې ویلې اورباني ورته ډیر په شوق اوذوق ولاړواودغه دموسیقي اورقصونو محفلونه یې په ډیرو ښواحساساتو استقبال کړل.

مونږ چې درباني دپورتنیو صحنواستقبال ولید حیران ورته پاتي شوو چې دا څه ډول کاردي؟

(٧)مخ

پالیسی انگلستان درمقابله باارتش آزادیخواه آیرلند شمالي

مترجم : عبدالهادي

اکثر کشورهاي جهان بخصوص دول استعماري معمولاً چنان اعلام میدارند که باتروریست ها و هواداران تروریزم هیچگاه مذاکره نمیکنیم " امااسرانجام حوادثي روي میدهد که به رغم اعلامیه قبلي خواستار مذاکره با آنها میشوند" چنین رویدادها درجهان بارها مشاهده شده است.

کشورهایي که حتي مبارزان وفعالان جنبش هاي آزادیخواهي را تروریست خوانده ومحکوم مینمودند درپایان امربا آنها ملاقات نموده اند.

چنین جملات را انگلستان از مدتها قبل زمزمه میکرد ارتش آزایخواه ایرلند شمالي را تروریست مي خواند واز هرگونه مذاکره وتفاهم با آن خودداري مینمود، در حالیکه درخفامذاکرات وگفتگوهایي درسطح بالاباآن انجام میدادبعداز افشاي حقایق ثابت شد که دولت انگلیسی بخصوص جان میجر صدراعظم آنکشورتماس هاي سري با آن ارتش داشته ومذاکراتي با همان اشخاصیکه ظاهراً آنها راتروریست میخواندانجام داده است.

اوضاع تغیرناپذیر و یکنواخت در ایرلندشمالي ووجود نیروي ستیزه جوومبارز درآن،که براي انگلستان نه مورد کارآیي دارد ونه قابل قبول است وعلاوه برآن حکومت انگلیس توان مقابله وحتي جلوگیري از فعالیت هاي آنراندارد درچنین حالت جز راه مذاکره دیگر راهي براي لندن باقي نمانده است زیرا درجریان سالهاي گذشته همه وسایل ودسایس را بکارگرفت اما جز زیان اچیزي بدست نیاورد،سرانجام درپهلوي روش استفاده از توطیه وقوه راه مذاکره نیز ابتدا سري وبعداً علني برگزید.

رژیم صهیونستي نیز همچو ادعایي داشت جنبش هاي آزادیخواه فلسطیني را تروریست توصیف میکرد واز هرگونه تماس با آنها امتناع داشت ولي معلوم شد که رژیم تل ابیب بارها مذاکرات سري باعرفات رهبرساف دراوسلوداشته وبه تعقیب آن گفتگوهاي علني صورت گرفت که منجربه امضاي پیمان نام نهاد معروف به (غزه - اریحا)شد.مارگریت تاچر سابق نخست وزیر انگلستان دراجلاس سران کشور هاي عضو کامنولت منعقده سال (١٩٨٧) میلادي در وانکیور، کنگره ملي افریقا را سازمان تروریستي توصیف کرد درحالیکه اکنون رهبر این سازمان نلسن ماندیلا برنده جایزه جهاني صلح (نوبل)بوده ودرماه جاري انگلستان درصددبهبود روابط با این سازمان است که اکنون گروه حاکم در جمهوري افریقاي جنوبي به حساب میآید.

زمانیکه گینیا مستعمره انگلستان بود، جوموکینیاتا رهبر جنبش آزادیخواهي این سرزمین ازطرف گورنر انگلیسی حاکم برگینیا رهبردسته ظلمت وکشتار خوانده شد، چند سال بعد انگلستان این سرزمین رابه وي سپرد ودر زمره یاران وعمال نزدیك انگلیس در قاره سیاهپوست نشین افریقا قرارگرفت. انگلستان با(ماکاریوس)باشنده سیپروس ورابرت مرگابي از زامبیا نیز چنین روش درپیش گرفته بود.

اینگونه حوادث درجهان بمراتب روي داده ولست طولاني دارد.

دمضمون لیکوونکي ته به ښه یادوي چي په هغه وخت کي مولانا مودودي په بندیخانه کي وو دجیل نه دخلاصیدوپه وخت کي دهغه په خوله دامشهوره جمله وه چي په ایوب خان کي له دي نه پرته چي هغه سړي دي بل هیڅ ښه والي نشته اومحترمه فاطمه جناح کښي له دي پرته چي هغه ښځه ده بله هیڅ خرابي نشته . له مؤلانامفتي محمدشفیع صاحب څخه چي کله پوښتنه وشوه اوډېر زوربې ورباندي واچاوه نوهغه یوداسي جمله ایزه فتوي صادره کړه چي : په دووخرابیوکي دي کمه خرابي غوره کړاي شي . مولانا مودودي په خپل کتاب اسلامي ریاست، ترجمان القرآن اوتفهیم القرآن کي دسورة نساء ، سورةنوراوسورة احزاب په تفسیرونوکي په گڼو آیاتونواواحادیثو سره دښځي حکمراني غیرشرعي ثابته کړیده . که چیري ته (کوثر نیازي) دمولانا مودودي درائي دومره پابندیې نوته خولږدښځي دمقام اودهغي دکارددایري په هکله دهغواحادیثو اوآیاتونومطالعه هم وکړه کوم چي هغه په خپلوتصنیفاتوکي درج کړیدي اوکه تاپرلزي په دي خاصه معامله کي دهغه په رائي اونظرایمان راوړي وي، نوله نوروحکمونو څخه صرف نظربه څه معني ولري ؟

مضمون لیکونکي داهم لیکلي دي چي مولانا مودودي دسیاسي اوجمهوري په حواله داخبره کولاي شواي دهغه له پاره ددي نظریي دایجادولو ضرورت نه وو نوخبره داده چي دیوه دیني عالم عمل دعوامولپاره دلیل جوړیداي شي همدارنگه خلکودسیاسي اوجمهوري ضرورت په بنادکمونیزم اوسوسیالیزم ترنظریاتوپوري ایجاد کړیدي . دادمولانا مودودي دښه دیدڅرگنددلیل دي، چي هغه دښځي حمایت وکړ لیکن هغه یې په اضطراري حالاتوکي دحراموخوړلو مترادف وباله اوهغه په خپلو لیکنوکي چیري هم داسي نه دي لیکلي چي دښځي حکمراني په کوم مسلمان مملکت کي رواده که هغه اوس هم ژوندي واي نودابه یې ناجایزه باله داسلام دغوره قهرمان ددي عارضي اودمجبوري په حالت کي شوي فیصلي دشریعت له پاره دلیل وړاندي کول اوهغه دهمیشه له پاره جایزبلل په هیڅ صورت کي مناسب نه دي .

محترم مشر داهم لیکلي دي چي په قرآن کریم کي داسي یوآیت هم نشي موندل کیداي چي په هغي کي ښځه حاکمه گرځول منع شوي وي . عرض دادي اسلام چي په ښځه دپردي کومه پابندي لگولي ده اودښځي لپاره یې دکاردایره معینه کړیده تردي چي دهغي له پاره یې دحج اوعمري سفرهم بغیرله محرم نه منع کړیدي، په خپل ذات کي دښځي دحکمراني خلاف دي، مولانا صاحب نیازي خودمولانا اشرف علي تهانوي دامدادالفتاوي حواله ورکړیده لیکن هغه چي دخپل عمرپه آخره کي کومه فتوي ورکړیده هغي ته اهمیت نه ورکوي دامداد الفتاوي تحقیق په ۳۳۰ کي شویدي اومولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه په ۱۳٦۲ هـ کي وفات شویدي دعمرپه اخري کال حضرت مولانا مفتي محمدشفیع دمولانا اشرف علي تهانوي ترمستقیم نظارت لاندي داحکام القرآن هغه برخه لیکله کومه چي هغه (تهانوي) هغه (مفتي محمدشفیع) ته سپارلي وه . دهغي عبارت څه داشان دي « دمحمدصلي الله علیه وسلم په شریعت کي ښځه دامارت اومشرتابه اهل نه ده اوبلقیس پیښه دکافرانو عمل وه لدي وجي هغه دلیل نشي کیداي همدارنگه امام آلوسي په احکام القرآن صفحه ۲۹ جلد ٦ کي هم لیکلي دي .

داددي خبري څرگنده قرینه ده چي مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه له خپلي پخواني رایې څخه رجوع کړیوه اوده ته دخپل پخواني استدلال اوتوجیه کمزوري معلومه شویوه وروسته مضمون لیکونکي دبخاري شریف دباب الفتن دحدیث دضعیف ثابتولو هڅه کړیده چي محمد(ص) فرمایلي دي: هغه قوم به هیڅ کامیاب نشي چي دحکومت واگي یې ښځي ته وسپارلي حالانکه داحادیثو په شپږو کتابونودامت اجماع اوپه تیوي سنت دعمل یوازیني ذریعه ده همدارنگه دحضرت ابوهریره رضي الله عنه حدیث داهل علم لپاره دغور کولو وړدي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي :

چي کله ستاسي امیران له غورروخلکوڅخه وي او ستاسي مالدارخلك سخني کوونکي اوبخښش کوونکي وي اوستاسي خپلمنځي معاملي په صلاح اومشوره سره صورت نیسي نوستاسولپاره دځمکي دپېخ نه دځمکي مخ غوره دي، خوچي کله ستاسي حاکمان بدترین دخلکووي اوستاسي مالدارخلك بخیل وي اوستاسي دمملکت چاري ښځوته وسپارلي شي نوبیا ستاسي لپاره دځمکي دمخ نه دځمکي تل غوره اوبهتردي .

هغه خلك چي په یوه مسلمانه ټولنه باندي دښځي دحاکمیت هیله مندوي اودهغي دشرعي ثابتولوهاند کوي هغوي دي په دي مبارك حدیث باندي لږغوراوسوچ وکړي .

مولانا صاحب دجمل په جنگ کي دحضرت عایشي رضي الله تعالي عنهاوتل هم ددلیل په توگه وړاندي کړیدي اوپه دي باندي یې دفتح الباري دمصنف نظرهم څرگندکړیدي . نعوذبالله حضرت عایشه رضي الله تعالي عنها دمملکت دمشري جوړیدو په نیت نه وه وتلي بلکه هغي دحضرت عثمان رضي الله عنه دشهادت دکسات اخستلوپه نیت مجبوراً هغه دله رهبري کوله ، سره له دي هغه ټول عمرپه خپل دغه کارباندي خفه اوغمجنه وه چي دي ته به کله داواقعه وریه یادشوه نودومره به یې وژړل چي ددي لوپټه به په اوښکو لونده شوه . په دي باره کي حضرت علي رضي الله تعالي عنه فرمایي : چي که دښځولپاره خلافت جائز واي نوحضرت عایشه رضي الله تعالي عنهاددي اهل اومستحقه وه له دي نه ثابته شوه چي صحابه کرامودښځو حکمراني په دي وجه نارواگڼله چي هغوي (ښځي) ددي اهل نه دي بلکه اسلام دښځو اوسړو دکاردایري ته په کتو سره دهغوي په نفسیاتي او جسماني جوړښت کي توپیرپیداکړیدي ځکه داسي نه واي نوترټولو نه زیات خوحضرت فاطمه اوپاکي بیبیاني ددي وړوي چي دخلافت منصب سمبال کړي .

مولانا صاحب هندوستان، روس اونوراروپایي مملکتونه ددلیل په ډول وړاندي کړیدي، کومي مسلماني ټولني اودمحمدي شریعت لپاره دهغوي عمل ددلیل په طور نه شي وړاندي کیداي که له مولاناصاحب سره پدي هکله له قرآن، سنت، اجماع اوقیاس څخه کوم دلیل وجودلري، نووړاندي دي کړي ځکه دشریعت دلایل همدادي پرته له دي بل هیڅ دلیل دقبول وړندي. مسلمان قومونه تاریخ لیکونکي اولوستونکي پېژني چي هغوي هم ددیري سختي مجبوري له وجي ښځه دمملکت مشره منلاي شي خودهغوي مجبوري کلیه قاعده نشي گرځیداي .

مولاناصاحب داهم لیکلي چي داپورتني حدیث صحیح دي خوبه پاکستان باندي یې اطلاق نشي کیداي لیکن هغوي ددي وضاحت نه دي کړي حالانکه داحدیث په پاکستان باندي بالکل منطبق کیداي شي، زموږ دمعیشت بنیادپه سودباندي دي کوم ته چي قرآن دالله اودهغه درسول (ص) سره جنگ ویلي دي، عیسائیت ، قادیانیت اوفرقه وایت دلته په زیاتیدو دي نوته دکومي اخروي اودنیوي کامیابي څبره کوي، حضرت امام ابن کثیرفرمایلي دي چي دمملکت مشرتوب په سړو پوري مخصوص دي .

(تفسیرابن کثیر ص ۷٤ ج ۲ سورة نساء آیت نمبر ۳٤)

امام قرطبي لیکي : دفقهاوپه دي باندي اجماع ده چي دښځي حکمراني اومشرتوب روانه دي . (تفسیرقرطبي ص ۲۷۰ ج ۱)

مولانا ابوالکلام ازادهم په ترجمان القرآن کښي دسورة النساء د۳۱ آیت په تشریح کي حکمراني او مشرتوب یوازي دسړولپاره رواگرځولي دی .

په مستدرك حاکم صفحه ۲۹۱ جلد٤ کي له حضرت ابوبکررضي الله عنه څخه حدیث نقل شویدي چي رسول الله (ص) فرمایلي دي : چي کله سړي دښځواطاعت وکړي نوتباه اوبرباد به شي ددي حدیث مقصددښځي دحکمراني ممانعت دي البته دهغي څخه دمشورواخیستل منع نه دي

په هرصورت لکه څنگه چي واکترصاحب اسراراحمدویلي دي چي دښځي حکمراني دیوه منکراوناروایه قسم منل کیداي شي لیکن هغه شرعاً روانشي گنل کیداي .

(۲)مخ

داسلام دنابودي لپاره دکمونستانو ، صهیونستانو اویهودانو نظریات اوهلي ځلي

داکترعبدالحق"فرقانیار"

الله پاك (ج) ټول انسانان په دوه مهمو دولو (اسلام - کفر) ویشلي دي چي هره وله ځانگړي ممیزات او خصوصیات لري چي الله تعالي ددوي ټول تبرشوي اوسني او راتلونکي کړه وړه په پوره تفصیل سره بیان اوذکرکړي دي همدا وجه ده چي دپورتنیو دووډلو اخ ودب اوکشمکش له آدمه تر ترددي دمه اوبیاالآخره تر قیامته په جاري وي اودحق اوباطل مجادله اومبارزه به روانه وي . دهمیش لپاره به درحمان لښکردشیطان دلښکر وبه مقابله کي ولاړوي او الله پاك چي دکوم نصرت اوکومك وعده کړي ده هغه دمسلمان ټولگي اوډلي سره ده همداوجه ده چي داسلام ډېر وړوکي ټولگي دټول کفر دمادي طاقت سره مقابله کوي ، ټوکه دخداي کومك اونصرت نه واي نو داسلام ټغردکفاروپه تاوتو لاسونو له نري څخه ټول وو مگرعزیزاومقتدرخداي دخپل دین اومخلصوبندگانو حامي اونگهبان دي همدا علت دي چي دمسلمانانو ډېروړوکي ټولگي دکفارو په لویو لویو لښکرواوقامونو غلبه اوتسلط حاصل کړي دي چي تاریخ یې گواه اوشاهد دي چي مسلمانان دکفاروډېرو خندونو او موانعو څخه په هر دور اوزمان کي ښه په میړانه اوسلامتیا فاتحانه تیرشوي اومخالفي ډلي ته یې حیرانونکي او نه راگرځیدونکي شکست اوماتي ورکړي ده . مگر بیا هم دکفارو ډېر ترپردي لاندي فعالیتونه دیوه اوبل نامه لاندي ددي په تکل اوکوښش کي دي چي ترڅومسلمانان دخپل شوم اولادبنه مقصد او هدف پیرو اودخپلوکفري عقائیدو په دام کي راگیر کړي چي ددي لري یوه کړي دکمونیزم طاغوتي اوشیطاني حلقه ده چي دخپل شوم اوشیطاني عمل په واسطه داسلام سمسورباغ اوبوستان دخپل مکراوفریب په خزان له منځه ورل غواړي اود همیش لپاره یې زیار ایستلي دي چي دخپل زور اوظلم په واسطه داسلامي ټولني دبربادي عوامل پیداکړي اودڅومزدوروواوځان پلورونکیو عناصروپه واسطه خپل شوم مقاصد اواهداف عملي کړي چي ددوي دډي مفکوري اوشیطاني عمل ډېر تاریخي مثالونه دنړي په گوټ گوټ کي لیدل کیږي حتي په کال ۱۹٦٤ کي یعني قریباً ۵۰ کاله دسره انقلاب څخه وروسته روسي مجلي د (العلم والدین) په نامه اعتراف کړي وو چي دملعون لینین نظریات اواصول دمسلمانانو دویني اوعقائیدو سره نه یوځاي کیدونکي دي ځکه چي اسلام همیشه دهغوي باطل خود ساخته اوغیر حقیقي نظریات اوعقاید دحق په نوره محوه اونابود کړي دي . بله دا چي کمونستان وایي چي اسلام باید په خپله داسلام پواسطه له منځه یوړل شي یعني دځوخودغرضه او ناأهله انساناتو په واسطه گمراه کوونکي تبلیغات اوډفحاشي زمینه برابره شي دصالح عالم په مقابل کي دپیسو په زور جاهل عالم چي ددین ترنامه لاندي ناوړه استفاده وکړي اودکمونستانو په گټه او ددین خلاف تبلیغ وکړي ترڅو اسلامي جامعه فاسده اوددي فساد په نتیجه کي هغوي خپل منحوس عقائد پرخلکو تحمیل کړي . ددوي آخري حربه دظلم اوزور حربه ده چي استعمالوي یې لکه څنگه چي دمنځني اسیا په هیوادونو کي یې قریباً (۷۰) کاله مخکي استعمال کړه چي بالآخره یې دهمدي شیطاني عملونو په واسطه د اسلام مراکز له منځه یوړل اوپه هغوي کي یې دفساد مرکزونه جوړکړل اوبیاالآخره دظلم اوتشدد په واسطه مسلمانان قتل مهاجر اووژل او همدا حربه یې په ټوله نړي استعمالوله خودبده مرغه دوي دداسي قوم سره ډغره ووهله چي هغه ته دخداي پوره پوره مرسته اونصرت حاصل و اوهغه افغان قوم وو چي ددنیا ډېر داسي جابر اوظالم قوتونه یې ددنیاله نقشي څخه محوه اونابود کړي دي هغه دداسي قوم سره مشت اوگریوان شوچي افغان قوم ورته دخپل توري څخه اومیراني په زور دوي ته دابدي رسوایي اوناکامي سبق ورکړاودکمونیزم جنازه یې دټولي نړي څخه دابد لپاره پورته کړه او هم یې دهغه فاسدي او لادیني مفکوري دخالق مجسمي دځمکي له مخ څخه دابد لپاره دتاریخ آرشیف ته ورسپارلي حتي تردې چي د خپلو اصیلو پیروانو پواسطه یې دخپل رهبرد مجسمي په غاړه کي دخپل انتقام رسي واچوله اودابدي ذلت په ځمکه یې راکش کړاودنابودي کندي ته یې گذار کړ چي دادنورو کافرواولادینه لیډرانو لپاره یو تاریخي دعبرت سبق وو. اودنړي ټول مظلومان یې دهغه جابرو اوظالمو شیطانانو دظلم جبر او منحوسي اومنفوري عقیدي څخه دابدلپاره خلاص کړل اودکمونستانو نه ماتیدونکي اونه په شاتلونکي امپراطوري یې پر پنځلسو ټوټو وویشله چي البته داتاریخ ویاړ داسلام افتخار اودافغان مجاهدینو سرښندنه اوقرباني وه اودخپل حقیقي مالك اوخالق کومك اونصرت وو چي دخپل غیرت په ځپو کي یې ددنیا دلوي سره شیطان له شره څخه دخپلو باتوره مجاهدینو په واسطه ټولو مظلومانو ته نجات ورکړ اوداسلام نیمه ډوبه شوي کښتي یې دشهیدانو دپاکو وینو نذراني په بدله کي دآرام سکون اونجات ساحل ته ورسوله .

همدارنگه دکفري حلقي یوه بله ژنگ وهلي کړي چي صهیونستان اویهودیان دي دپېړیو پېړیو راهیسي دمسلمانانو دمحوه اونابودي لپاره یېدي وهلي ولاړدي اوپه هروقت اوزمان کي یې داسلام اومسلمانانو دنابودي لپاره درازراز پلانونو اوعملونو په پټ اوپرملاترسره کړي اوپه کاربي اچولي دي اوخپل شوم اهداف یې دبعضو تش په نامه مسلمانانو پواسطه په یوه اوبل نامه ترسره کړي دي داهغه کفري اسلام دوښمنه ډله ده چي دخپلي نرمي ژبې ترپردي لاندي ډېر څه کولاي شي او هم یې لا پخوا ترسره کړي دي دډي ډلگي دمکراوچال په دام کي ډېر تش په نامه اسلامي ملکونه گیر پاته شوي اودخپلي مصنوعي سپوږمي پواسطه یې کارتري اخستي دي داډېره ترپردي لاندي اوپه ظاهره یې تشدده وله ده چي دهمدي مکر اونیرنگ په واسطه یې دډېرو اسلامي ملکونو جایدادونه اوزیرمي ښه په آرام سره ترخپل ستوني تیرکړي اوهم یې خپل شوم اهداف ښه ددوستي ترپردي لاندي تر لاسه کړي مگر دهمدي دوستي ترسیوري لاندي یې دمسلمانانو عقاید خراب کړي ملتونه یې توته کړي زیرمي یې تالا کړي شتمني یې تالا اولوټلي خوش باوره مسلمانان یې منحرف اودخپل هیواد په ضد یې استعمال کړي اوبیاالاخره یې دمسلمانانو اوټولي اسلامي ټولني دمحوه اونابودي ټول اسباب اوموجبات برابرکړي اگر چي خداي (ج) ددوي ټول مکر جن اواسلام دښمنه خصوصیات په واضحه توگه په ډاگه کړي خو افسوس چي دخپل حقیقي باداراومولا څخه سرکشي کړي همداوجه ده چي پدامي نه جبرانیدونکي مصیبت باندي ټوله اسلامي نړي ککړه ده .داخبره واضح حقیقت دي چي کفار هیڅ کله دمسلمانانو دوستان نشي کیداي چي ددي امر دثبوت لپاره څو ژوندي کینه ناك مثالو په لاندي ډول بیانیږي .

۱ - گلادستون دبریطانیا په ملي شوري کي په عام محضرکي قرآن په لاس پورته کړاو دشوري برخه والوته یې وویل چي ترڅو دمسلمانانو سره داکتاب (قرآن کریم) موجود وي نو ترهغي پوري به مسلمانان اغوا اوتراستعمارلاندي رانشي.

۲ - صلیبي بالگراف وایي چي ترهغه پوري دا قران او مکه مکرمه موجوده وي نود مسلمانان دفریب اوغولوني ټولي هلي

(٤)مخ

دملت دقاتلانو (روسانو)سره یوځل بیا دوستي ؟!

قاطن

ټېروالو او هیوادوالو ته دلر په څېر روسانه اوواگېزه ده چي روسانو دافغانانو سره ددوستي په پلمه دشپیتو کلونو نه دزیاتي مودي په تیریدو سره څه وکړل !؟ روسانو چي دتیرو رژیمونو په لستونو کي د افغانانو دېچلو لپاره ځاي نیولي وو نود خپلو لاس پوڅو حکومتونو پواسطه یې زمونږ ملي شتمني لکه گاز ، پنبه ، وړي، غالي میوه جات اوداسي نورڅیزونه دیوناچیز قیمت په بدل کي ترستوني تیرول له بل لوري یې خپل شوم هدف ته درسیدو لپاره ،افغاني سپېځلي ځلمیان دلورو تعلیماتواوتحصیلاتو په نامه خپل کمونستي مرکز مسکوته بلل ترڅو یې له مغزو څخه اسلام وباسي اوبیایې دافغان اولس اوخاوري دپلورلو لپاره بیرته افغانستان ته راستانه اواستخدام کړي چي همداسي هم وشول .

روسانو وکولاي شول چي دروزل شوو گوداگیانوپه همکاري دافغانستان په دننه کي ځني نور تنکي ځوانان په ریلونو تطمیع او په ۱۳۵۷ ش هـ کال دکمونستي کودتا په ترځ کي قدرت ترلا سه او دافغانستان دتباهي او وراني دبنسټ ډېره کښېردي چي بالاخره په هیواد کي دوروروژني او گهودي پیلامه له دغه ځایه پیل شوه چي نن د دي چېري ماشوري سرهیځلوك نشي موندلي.

روسانو په ۱۳۵۸ هـ ش کال دمرغومي دمیاشتي په شپږمه نیټه بیا هم ددوستي په نامه د ببرك کارمل په غوښتنه دخپل پخواني ارمان دعملي کیدو په خاطر اود سري امپراتوري دغځولو لپاره ټول بین المللي نورمونه تر پښولاندي کړل په ډېره سپین سترگي یې پرافغانستان یرغل وکړ . خودغه وحشیانه یرغل دافغانستان دمسلمانانو پرگنو دکرکي اونفرت سبب شراوایمانداروافغانانو دایماني پاڅون په رڼاکي د روسانوسره سخت مقاومت وکړ. افغانانو دروسانو وحشت ونه مانه خودخپلو شتمنیو څخه تیر اودهجرت لاره یې غوره کړه همداراز دیاړانو په څېرې پر روسانو حملي پیل کړلي چي دغه الحادي سنگرونه یې یوپربل پسي مات او یونیم میلون شهیدانو په نذرانه کولو، دېي شمیره معیوبانو په منلو سره یې الحادي تغر بیاټول اوروسان یې په زېرو سترگو له ملك څخه وشړل . شړل څه چي خپله د روسانو کمونستي کړي هم وندي وندي شوه کمونیزم ترخاورو لاندي شو نن چي په افغانستان کي کمونستان له پښولویدلي بیا هم اسلامي حکومت نشته او نه مجاهدین قدرت لري.

حتي کمونستان دمجاهد غاولو تروزرولاندي بیادقدرت خوبونه ویني نن خلدونه اوسټنرژي چي زموږ په ملك کي رواني دي داټولي داسلام دښمنانو پلانونه دي چي غواړي دمجاهدینو دخپلمنځي اختلافاتو ترلمني لاندي روسان چي دافغان ملت رښتیني قاتلان دي هیڅکله هم دنورو ښکیلاکگرو په ملگرتیا دمسلمانانو خپلواکي اوسوچه اسلامي نظامونه نشي زغملي ولي دکابل تش په نامه رئیس جمهور چي پرون یې دکمونستانو اوروسانو پرضد جهاد کاو نن دهماغوقاتلانو په نغوته اومرسته خپل جهادي اوسنگري رورونه ،څه پخپله او څه هم دپخوانو قاتلانو په لاس وژني ،تکوي یې اوله منځه ورلو پسي یې راخستي ده.

دکابل بي واکه واکداراتو دهیواد وراني بېي شمیره شهیدان ،کوندي یتیمان بیا هم په بې پښتواني توتوتو خرځوي ،هیواد وال ځوروي او دقاتلانو څنگ ته پریږدي اودېیواکه اوشریدلي قدرت څخه نه اوړي.

ددکو رئیس جمهور چي خپل جهادي شخصیت یې دمسعود دسرقرباني کړ اود کابل ښاریان یې دارگ په هیله د وینو سمندرته تیل وهل یوځل بیا د افغان ملت دقاتلینو سره په مسکو کي پټي مرکي کوي ،التخاري دیپلوم تري اخلي ، خپل نمایندگان وراستوي ،اقتصادي ،نظامي مرستي تري غواړي نو آیا داسي کړه وړه دیوزعیم اوپایه اصطلاح دمجاهدینو دمشرپه نامه دیومجاهد ملت سپکاوي نه دي ؟

آیا دشهیدانو دقاتلانو سره ناسته ولاړه دهغوي دوارثینوسره جفا نه ده ؟ آیا د افغان ملت د قدیمي دښمن سره داسي پټ پټاني ددافغان ملت دسرنوشت سره لوبي نه د ي !؟

آیا د تاچلو توتوتو په بدل کي مسلمانان جنگړل . دیومجاهد دمقام اونشان سره مسخري نه دي اېلي دي .چي داسي دي نو داسلام ددښمنانو پرځاي دخداي (ج) ددوستانو سره بوشي ،دکړیدلي اولس د زړه درمل شي ، دجهاد سپېڅلي نوم وساتي اودپخوا په شان دافغان ملت دقاتلینو لپاره بیا پوخ سنگرجوړکړي تر غرگتلي نوم دجهاد دتاریخ په زرینو پاڼو کي تلپاتي ،ځلاند اومحفوظ وي .

۸ کشورعضو اتحادیه ...

۳۹٪ درصد آراء را کسب نمودند . درایتالیا نیز گروه تحت رهبري صدراعظم اینکشور درین انتخابات باکسب ۲۷ . ۵ درصد آراء موفق شد . درپرتگا ل حزب سوسیاست اینکشورموفق شد (۹۰) درصد آراء را بخوداختصاص دهد . درهسپانیا گروه دست راستي حزب خلق هسپانیااکثریت آراء (٤۰ درصد)رأي را بخود اختصاص داد. درپاریس ائتلاف احزاب دست راستي فرانسه باکسب (٤۰) درصد آراء پیروز شد .

-پیشبیني مي شود پارلمان اروپا که (٥٦۷) کرسي دارد یك اکثریت چپ گرا خواهد داشت. بسیاري از (۲۷۰) ملیون رأي دهنده واجد شرایط که فکرمي کنند حقوق ملي شان کاهش خواهد یافت ،با بارأي دادن به احزاب ضد اتحادیه اروپاویاباترفتن به محل رأي دهي عدم رضایت شان رابه نمایش گذاشتند.

څوک چې وايي په افغانستان کې اسلامي دولت . . .

دحزب اسلامي مجاهدامیر اوددهیوادصدراعظم دتیری جمعې په ورځ دجوزاپه شلمه نیټه دجلال آباد په مرکزي جامع جومات کې چې په سپین جومات مشهوردي دجمعې لمانځه دخطبې نه وړاندې کړې شمېرلمونځ کوونکوته عالمانه وینا وکړه او د هیواد دروانوحالاتو په اړوند یې معلومات ورکړل ، دادي ددي وینابشپړمتن خپروو:

الحمدلله وكفى والسلام على عباده الذين اصطفى وبعدفاعوذبالله من الشيطان الرجيم،بسم الله الرحمن الرحيم . «ومن الناس من يشري نفسه ابتغاء مرضات الله والله رؤف بالعباد » (صدق الله العظيم) ورونوالله (ج) فرمايي چې دخلکوته ځينې هغه دي چې خرڅوي خپل نفس دالله درضاپه لاره کې اوالله په خپلوبندګانوروف اومهربان دي. ځينې خلك هغه دي چې خپل ژوندااوهرڅه دالله (ج) په لاره کې وقفوي ترڅوخداي (ج) ورته راضي شي .

> **دالله (ج) وعده داده چې که تاسو خداي ته رجوع وکړه اودین مو حاکم کړ ستاسو خوف اوویره به په امن اوفقراولوږه به مو په کثرت اووفرت بدلوي .**

که هغه خبره کوي دخداي له پاره، ګام اخلي دالله (ج) له پاره ، که جګړه کوي دخداي (ج) لپاره،که سوله کوي دالله (ج)له پاره، که دوستي کوي، که دښمني کوي دخداي (ج) له پاره ، هدف ئې داوي چې خداي (ج) ترېنه رضاشي اجراوپاداش هم يوازې له خداي (ج) څخه غواړي .

دادپيامبرانولارده ،قرآن عظيم الشان دهغوي په باب فرمائي چې هغوي خپل قوم ته راغلي اوويل چې « ان اجري الا على الله ، ان اجري الا على رب العلمين ».

زماپاداش اواجر نه دي مګرپروب العلمين خداي (ج) دهغوي طمع اوتوقع صرف ديوالله (ج) نه ده .

هغه که بدله غواړي دخداي (ج)نه ئې غواړي، هغه که دخپلې قرباني بدله ، دخپل جهاد بدله ، ددين ددښمنانوسره دخپلې جګړې بدله غواړي نودخداي (ج) نه يې غواړي . په دې لاره کې هرڅه منلوته هم تياردي . قرآن عظيم الشان دموسى عليه السلام دداستان په ترڅ کې دساحرانو په ارتباط فرمائي هغه چې فرعون دموسى عليه السلام مقابلې ته راوبلل ،په دې طمع چې فرعون به هغوی ته پاداش ورکوي، هغوي فرعون ته وايي چې که موږ په دې جګړه کې دموسی عليه السلام په خلاف غالب شوو حتماً به موږلره اجروي هغه وايي چې بلې تاسوته به اجروي اوبيابه ددرباردمقربيان ياست هغوي دکفريه حالت کې دفرعون په اشاره راټولېږي اودپاداش طمع هم له فرعون نه لري اولوي انتظارئي داوي چې دفرعون دددرباردمقربينو په ډله کې ونيولی شي. خوچې کله ايمان راوړي، دموسى عليه السلام اودهارون عليه السلام په رب ايمان راوړي ، فرعون ئې په دې تهديدوي چې زماداجازې اواذن نه پرته موايمان راوړاوس به وګوري چې له تاسوسره څه معامله کوم، لاس اوپښې به موديوبل په خلاف قطع کوم اوپه داريه موځړوم، ولې وګوري چې ددې په مقابل کې دسحارو ځواب چې په خداي (ج) يې ايمان راوړي څه دي . وايي چې « انا الى ربنا منقلبون » پروانشته چې له موږسره څه کوي وژني موږبه دارموځړوي ددې په نتيجه کې موږدخپل رب طرف ته ځو، اوګوري طمعه ئې له څانه ده ، وايې « انا نطمع ان يغفرلنا ربنا خطايانا ان كنا أول المؤمنين » اوس موطمع هم ديوخداي (ج) نه ده اوهغه هم څه طمع داچې زموږګناهونه راته وبښي اودا چې موږلومړي مؤمنان شولو. اوس هغه که طمعه لري له يوخداي (ج) نه، اوطمعه ئې هم ددنيا نه ده ، دمال نه ده فقط داده چې خداي (ج) ورته بښنه وکړي، داچې هغوي ته داسعادت ورپه برخه شوي دي چې دلږيوموميناتوپه ډله کې تيول شوي، ګويا دهغوي مادي طمع په معنوي تلوسې بدله شوې اودانسان ته طمع ئې خداي (ج) ته په طمعې بدله شوې ده ، اوس له مرګ نه نه ويرېږي ، دهغه فرعون دتهديدونه ويره نه لري چې دپاداش طمعه ئې درلودله اودهغه په خاطردموسى عليه السلام مقابلې ته راوتلي وو .

دوهمه ډله هغه ده چې خبره ئې دبل له پاره وي، که ګام اخلي دبل له پاره ، که حرکت کوي دبل له پاره ، که دوستي اودښمني کوي دبل له پاره ، اوکه جګړه اوسوله کوي دبل له پاره طمع وتوقع ئې هم دخداي (ج) نه پرته له بل څخه وي، دادوه ولې دي قرآن عظيم الشان ئې موږته معرفي کوي هغه چې په خداي (ج) ايمان نه لري. هرڅه به ئې دبل له پاره وي، ويره دبل نه ، طمع دخداي (ج)نه پرته دبل نه وي دپاداش اوداجرتوقع ئې هم له خداي (ج)نه پرته له بل څخه وي. بل هغه کسان چې دخداي (ج) له پاره څرڅېږي دخداي (ج) له پاره ملاتړي ، له خداي (ج) سره ئې په دې خبره تعهددي چې هرڅه به دهغه په لاره کې وقف کوي، هغه دخداي (ج) په لاره کې دمرګ تعهدلري همداکسان دي چې خداي (ج) دهغوي مل دي. که افغانستان آزادشوي، روس شکست خوړلي اودروسانوستره وحشي سره امپراطوري ختمه شوي هغه چې په ټوله دنيائي رعب مسلط ووجادهغه دمقابلې تصورنشوکولی، امريکا ورنه ويرېدله ، په ويتنام کې يې له هغه نه شکست خوړلی و، داهغوخلکودقرباني نتيجه ده چې دخداي (ج) سره ئې تعهدکړي وو چې هرڅه به موستاله پاره وي. سرپه لاس دخداي (ج) په لاره کې وجنګېدل. دهمدغومخلصومجاهدينودقربانيو په نتيجه کې افغانستان آزاد شو،روسي پوځونه دافغانستان څخه ووتل کمونست رژيم نسکورشواوهغه سره وحشي امپراتوري په زوال محکوم شوه . دهمدغومخلصومجاهدينودقربانيوپه نتيجه کې به الله (ج) دافغانستان روان بحران هم ختموي اوان شاالله دبرژيه ختمېږي ،دابوامتحاني دوره وه چې زموږپه قوم راغلي ترڅوګوري چې دچا جهاد دخداي جل جلاله لپاره دي، چادي لپاره ملاترلي وسله يې اخيستې چې په افغانستان کې د الله (ج) کلمه اوچته شي شريعت حاکم شي، اسلامي حکومت جوړشي، اوچاهم دمجبوريت په خاطروسله واخيستله . نوراهداف ئې درلودل. دبل دوسلواويسوله پاره جنګېدل .

دامرحله هم الله پاك دي له پاره راوسته چې دواړه ولي سره تقسيم کړي . هغه څوک چې دخداي (ج) له پاره جنګېدل يوالځي ددي له پاره چې په افغانستان کې اسلامي حکومت قائم شي، شريعت نافذوي سلطه دي ددين اوداسلام په لاس کې وي، قدرت دي صالحوګروټه ووسپېدلي شي . هغوي چې دروسي پوځونوله وتلو دکمونست رژيم له نسکوريدلونه وروسته چې کله وليدواسلامي حکومت نه دي قائم شوي، قدرت مجاهدينوته نه دي انتقال شوي خوبه سنګرونوکي پاته شو، اودسنګرونوته راکوزنشول. وسله ئې په ځمکه کېښودله ، داورته جفامعلومېدله چې په دغسې حالت کې خپل قوم پرېږدي چې په ټول ملك کې بې امنيتي، ويره اوخوف وي، دهيچاسره مال، آبرو، دين ، ناموس خوندي نه وي .

په ټول ملك کې جګړه وي، په قدرت کې کمونستان شريك وي، دنجيب ددورلوي درستيزاوس داسلامي دولت دلوي درستيزپه نامه کارکوي، جنرال آصف دلاوردنجيب دحکومت لوي درستيزدهغه دحکومت دنسکوريدونه بعدهم لوي درستيزوو. جنرال نبي عظيمي چې دمجاهدينوپه خلاف ئې ټولې جګړې اداره کولې هغه اوس هم دګارنيزيون قوماندان دي . په کابل پايتخت کې دچاسراومال خوندي نه دي، هغوي ته داجفااوظلم معلومېږي چې په دغسې حالت کې سنګرپرېږدي او وسله په ځمکه کېږدي . هغوي خپل جهادته ادامه ورکړي، دهغه مقابل کې ځيني تورووچي ، ومولېدل باتي خاموشي اختيارکړه ،باتي بې طرفي غوره کړه باتي دعافيت کنج اختيارکړياارل ائتلاف کې شامل شول له کمونستانوسره ئې ملګرتيا پېل کړه ، دمجاهدينو په خلاف ئې جګړه پېل کړه ، دهمدغوکمونستو جنرالانوترقوماندې لاندې دمجاهدينوپه خلاف جنګېدل.

ورونو ، په دې جومات کې ، په داسې حال کې چې قبلي ته مومخ دي اودخداي (ج) له پاره دلته راغونډشوي يياستي ، تاسوته تپوس کوم ، آيا په افغانستان کې اسلامي حکومت راغلي ؟ دحضارواوچت غږچې نه ، نه) ، دشهداووآرمان ترسره شوي ؟ (نه ، نه) زموږدجهادهدف ترسره شوي ؟ (نه ،نه) نوماته ووايي چې داجهادموږدڅه له پاره کاوه ،ولې وسله په ځمکه کېږدو، ولې سنګروته پرېږدو، ستاسوقرباني دڅه له پاره وه ، ستاژوي اوورورودڅه له پاره شهيدشوي . تاهجرت دڅه له پاره کړي وو، ستاکورولي وران شوي، خوارلس کاله دې ډونه ولې زغمل ،نن څه شوي چې تا وسله په ځمکه ايښي اوپه دي وضع راضي ئې ماته وايه ته اوخداي (ج) دي چې په کابل کې حکومت شته (حضار: نه ، نه) اسلامي حکومت خوبيېده اصلاً حکومت نشته ، په داسې حال کې چې زموږ قرباني دخداي (ج) له پاره وه ددې له پاره چې داسلام کلمه به لوړ وي، شريعت به نافذوي، دخداي (ج) دين به حکومت کوي . ټول منازعات به دخداي (ج) اوشريعت مطابق حل اوفصل کېږي . آيازما اوستاجهاد ددې له پاره نه وو؟ دکمونستانوسره موپه همدې خاطرجنګ نه دې کړي ؟ قرباني مودهمدې له پاره نه دې کړي ؟ که ستا جهاد رښتيا دخداي (ج) له پاره وو، دالله دکلمې دلوړولوله پاره ، ددې له پاره چې اسلامي حکومت اواسلامي نظام قائم شي ، قدرت اسلام ته اودين ته انتقال شي، قدرت صالحواسلام ته متعهدوشخصيتونوته انتقال شي، اسلامي نظام قائم شي، دالله (ج) کلمه لوړه وي دلوړوالي معناداته ده چې شنه بيرغونه ودرېږي ، دسره بيرغونوپه ځاي دشنوبيرغونوتوتې دي ودرېږي، دانه ، يعني داچې آخري فيصله به دخداي (ج) دين کوي، په هره شخړه اومنازعه کې به دخداي (ج) دين ته رجوع کېږي اوآخري پريکړه اوفيصله به هغه کوي. دکفر کلمه به ټيټه وي څوك به دکفرکلمه په جرئت سره نشي ويلي موږخودددې له پاره جهادکوو . زه دهغه مشرانوته تپوس کوم چې تل به يې ويل اسلامي حکومت غواړم، ائتلافي حکومت نه منم ، کمونستان په قدرت کې نه منم که اوس کمونستان په قدرت کې شريك وو، آصف دلاور لوي درستيز ؤ اوجنرال نبي عظيمي ، قوماندان دګارنيزون وو، جنرال اميرمحمداوس هم دوزارت دفاع سرپرست دي، بسم الله ئې دهوائي قواوو قوماندان دي، دااوس تاڅنګه په حکومت کې شرکت کړي ، داتن ته څنګه دي حکومت کې شريك ئې اوپه دې راضي ئې اودهغه نه دفاع کوي. ماته ووايي چې په دې دووکلونوکې ولې دې دوه ورځې په کابل کې نه دې تېرې کړې ، معنې ئې داده چې هلته دمجاهدينوحکومت نه دي جوړشوي ، اسلامي حکومت نشته، قدرت اوس هم دکمونستانوپه لاس کې دي ، ويره لري، که قدرت دمجاهدينوپه لاس کې وي نوته به په خپل سرنه دارېدې ويره به دې نه درلودله ، ماته ووايه دا نن ستاجهاد څه شو ، داډېرون ورځې لويې وعدې دې څه شوې ، ولې په دې حالت راضي ئې، ولې ساکت اوخاموش ئې، ورونو که موږ اوتاسو دخداي (ج) له پاره هجرت کړي وي، که دالله (ج) له پاره موملاتړلي وه ، جهاد موداسلامي حکومت له پاره پيل کړي وو نوزه تاسوته وايم چې په افغانستان کې اسلامي حکومت نه دي راغلي په خپل عهدبه دخداي (ج) سره ټينګ پاتي کېږي، ترهغه وخته پورې به جهادته ادامه ورکوي چې په افغانستان کې ستاسي دخوښې اسلامي حکومت جوړشي، دالله (ج) کلمه لوړه شي، شريعت نافذشي، دخلکومال، سر،آبرو، دين اوناموس خوندي شي، نن لويې لارې خوندي نه دي، نن په پايتخت کې امنيت نشته ، نن په ولاياتوکې امنيت نشته نن زورحکومت کوي، نن دکابل ښارکې دملك پايتخت کې ، دخلکوسر، مال ، آبرواوعزت خوندي نه دي ، داسلامي حکومت راتلوسره به دخلکوسرخوندي وي، دلاروامنيت به تأمينېږي ، دخلکوآبرواوعزت به خوندي کېږي اودادالله (ج) وعده ده الله (ج) په خپلو وعدوکې ريښتني دي. دالله (ج) وعده داده چې که تاسوخداي ته رجوع وکړه اودين موحاکم کړستاسوخوف اوويره به په امن بدلوي، فقراولوږه به موپه کثرت اووفرت بدلوي ،صريحاً قرآن ددې وعده کوي«آمنهم من جوع وآمنهم من خوف » داخوف اولوږه دالله (ج) دوه مصيبتونه دي، هغه قوم چې دخداي (ج) نه ئې مخ واړولو، قدرت ئې مفسدينوپه لاس کې ولويده ، داسلامي حکومت په ځاي غيراسلامي حکومت وړياندي مسلط شوداقوم به خامخا ددې دواړومصيبتونوسره مخامخ کېږي ،خوف اولوږه ،ماته وواياست نن په افغانستان کې خوف دي که نه ؟ په ټول ملك کې ويره اوخوف مسلط نه دي ؟ هرځاي کې خلك په خپل سر، مال اوآبرو ويرېږي ، قدرت مفسدينوپه لاس کې نه دي نيولي ؟ دچاپه لاس کې چې وسله ده، په توپ اوټانك حکومت کوي، لارې دهغه په کنټرول کې دي اوګروپچي هرڅوڅدمونه اخلي داسې مسلح کسان په کمين کې خلك ځوروي، شوکې کوي، دخلکوآبرواوحيثيت دهغوته خوندي نه دي، ماته وواياست چې دافغانستان په تاريخ کې هم کله دومره قيمتي راغلي؟ دنجيب په وخت کې هغه سخت بدحالت کې چې سخت محاصره ورااوددې محاصرې په وجه هغه مجبورشواستعفا وکړي دافغاني او دکلداري بيه يودبل په تناسب يوه اواوياوه ، يوه کلدارااوپا افغاني وه ،هلته دڅوورڅوله پاره يوکلدارااوپا افغانيوته رسيدلي وه پس له څووروځيبرته راپورته شو اوغلويښتو، ديرشو، پنځه ويشتو، شلوته ورسيده . نن ماته وواياست چې دافغاني اودکلداري ترمنځ تناسب څه دي ؟هغه بله ورځ سلوته رسيدلي وه ،يوه کلداره سل افغاني، موږکله هم دې ته نه يومجبورشوي چې له بهرنه غله واردکړو کله به چې قحطي وه ،دغلې مشکل موپه داخل کې حل کاوه ، خونن موږدبهرمرستې ته هم محتاج يو، ددې فقراودلوږې وجه قرآن موږته ښئي .

ورونو، موږاوتاسو دخداي (ج) له پاره ملاتړلي وه ، زامن اوورونه مودهمدې له پاره په شهادت رسيدلي، کورکلي موپه همدې خاطرېباردشوي هغه موږې ايښي بهرته موهجرت کړي ،دپاکستان دداګونو، دتودوخې، دګرمي ترخيمولاندې ژوندستونزې اوکړاونه موګاللي وو په دې اميدچې الله (ج) به په افغانستان کې اسلامي حکومت راولي، په هرڅه راضي وو دهمدې ارمان سره موږوندکولوچې يوورځ به داسلام بيرغ اوچت وي، په افغانستان کې به امن وي، زموږدخوښې اسلامي حکومت به جوړېږي ، پوځاندان به په موږ حکومت نه کوي، دتوپ ،ټانك په ذريعه به څوك په موږ حکومت نه کوي، موږبه دخپلې خوښې اسلامي حکومت انتخابوو، په خپل لاس به په خپله خوښه ورسره بيعت کوو. دهمدې آرمان سره موږژوندکړي، دهمدي ارمان سره موږجهادکړي ،دهمدې ارمان سره زموږ ورونه په شهادت ورسيدل،څوداآرمان نه دي ترسره شوي ، څوك چې وايي په افغانستان کې اسلامي حکومت اواسلامي دولت قائم شوي داسلامي سره جفا اوظلم کوي .

هغه غواړي چې اسلام بدنام کړي، ورونو، داسلام دښمنان ددې نه ويرېدل چې لومړي ځل له پاره دي پس له څوپېړيوجهادله لارې دمجاهدينوپه لاس يواسلامي حکومت جوړشي. اويابه داسې ملك کې چې هلته يولوي استعماري طاقت پۀ ګونډو شوي وي . داسلام دښمنان له دې نه ويرېدل چې که په افغانستان کې اسلامي حکومت

> **په همغه ځاي کې چې تا(رباني) پنځه ورځې دمخه داختر لمونځ وکړ نن ستاددوقوماندانانو ترمنځ جګړه ده اوچاريکار وران شوي اوته ددې دواړو ډلو ترمنځ چې ستاقوماندانان دي روغه جوړه هم نشي کولاي .**

جوړشو بيابه اسلامي نړۍ ټوله همداالارغوره کوي، بيابه اسلامي نړۍ دهغه له غلامۍ نه خلاصېږي، نن چې هغه په اسلامي نړۍ ، په سياسي ،عسکري اواقتصادي لحاظ حکومت کوي داسلطه به پاي ته رسېږي. دمسلمانانوبه لوي قوت جوړېږي داسلام همغه تيرمجداوعظمت به بيرته اعاده کېږي، يابه دټول عالم قيادت اورهبري مسلمانانوته سپارل کېږي ، مسلمانان به ددې موجوده اسارت اوغلامي نه ژغورل کېږي ، په همدې خاطرهغوي يوبل ته لاس ورکړي اوداسلامي حکومت دجوړيدومخه ئې ونيولي. متاسفانه په افغانانوکې ځينو دتل په شان هغوي ته سينه وټپوله چې موږددې خطردفع کولوته تيار يو، دبنيادګرائي خطراومقابله موږکوو، داسلامي حکومت دجوړيدومقابله موږکوو. هغوي ته وويل شول چې اوس په افغانستان کې دجګړې دپيل کولوله پاره بڼهبانه لټووايوبه چې دشمال اوجنوب خبره ده، دپښتون اوتاجك خبره ده ، داکثريت اواقليت خبره ده ، دوه نيم سوه کاله پښتنوحکومت کړي له دې نه بعددپښتنوحکومت نه منو، راځي اقليتونو، ازبك ، تاجك اوهزاره سره متحدشودهغوي مقابله وکرو.بي بي سي ورته همداتبليغات کول، صداي امريکا ورته همدا تبليغات کول، په افغانانو کې هيڅاداخبره نه وه کړي خوبي بي سي اوصداي امريکا به همداويل چې اوس په افغانستان کې اقليتونه دې ته تيارنه دي چې دپښتنوزعامت اوحکومت ومنې حال داچې افغانان تل دووروڼوپه شان پاتې شوي بهبربل دلوبې احساس‌ته دي کړي چېرته هم دپښتون اوتاجك خبره نه‌ژاولاره شوي، په يوکلي کې راغونډشوي وو، دهغوي باور اوعقيده داوه چې موږټول ديوخداي (ج) بندګان يو، ديومورپلارنه پيداشوي يو.يوځالق اوپروردګارپيداکړي يو، دټولو عقيده همداوه . افغانان متحدوو، په جهادکې هم متحدو، دښمنانوغوښتل چې په دې نامه افغانان ټوټې ټوټې کړي . زموږملي وحدت ختم کړي، افغانستان تجزيه کړي، لکه اسلامي امت چې هغوي په همدې ترتيب ټوټې ،ټوټې کړ.

هغه لوي امت چې په ټول عالم ئې حکومت کولو، ترکانوته يې وويل چې تاسودعربو حکومت مه منئ موږموسرسته کوو، فارس ته يې وويل چې ترکله به دعربو حکومت وي تاسودهغه دحکومت دختمولو له پاره ملاوتړئ موږستاسي ترشايو، دعربواوعجم ،دفارس عرب، دترك اودعرب داخبري راژوولي، په دې ترتيب ئې هغه لوي متحدقوي اوباعزته امت چې په ټول عالم ئې حکومت کاوه ټوټې، ټوټې کړ، شپږځلويښت حکومتونه ئې په هغوکې جوړکړل يوحکومت ، يودولت ،يوپوځ وو. له افريقانه نيولي ترچين پورې حکومت کاوه ، ترماوراالنهرپورې حکومت کاوه، دهغوي دحکومت اثرات په اروپاکې وو، په اسپانيابانديي حکومت کاوه ، يوګوسلاويااوپوري اسلام رسيدلي و، په بوسنيا کې چې کومه جګړه ده دمسلمانانو پرخلاف داهمغه حکومت بقاياديي ، آثاردي ، هغه لوي امت ئې چې په ټوله دنيائي حکومت کاوه ، هغه ئې په دې نامه ټوټې، ټوټې کړ، هغوي ښه تجربه درلودله غوښتل ئې په افغانستان کې همدغه فتنې راولاړې کړي، قومي ، ژبني، مذهبي تعصباتو ته لمن ووهي اوپه دې ترتيب زموږملي وحدت ختم کړي، تاجك دپښتون په خلاف وجنګوي، هزاره اوازبك ديوبل په ضدوجنګوي ، تاسويه په يادوي چې دنجيب دحکومت دنسکوريدونه بعد چې په ژبني، قومي اوسمتي اومذهبي تعصباتوولاړاتئتلاف جوړشونوهلته يوپښتون په کابل کې چاته په لاس ورته په کانتينروکي به ئې اچاوه اوله هغه دپاسه پطرول اواوريه ورپسي لګول.هزاره اوپښتون سره جنګېدل، تاجك دپښتون په خلاف جنګېدل، دښمنانوهمداغوښتل عربوته به ويل چې زموږ مرسته وکړي شيعه خطردي . موږددې خطرمقابله کوو، دلته دپښتنواوهزارو ترمنځ جنګ موږدفع کوو ترڅودهغونه ريال ترلاسه کړي، مسکوته به ويل چې موږ ته پيسې چاپ کړي موږته پربږدوچې په افغانستان کې ثبات اواستقرارتأمين شي، دادي کمونستان موږه خپل څنګ کې کېنولي ، نجيب چې څه کول موږئې درته کوو، دنجيب دوخت لوي درستيزززموږلوي درستيزدي ، دنجيب دوخت دګارنيزيون قوماندان زموږقوماندان دي، ستاټول جنرالان په خپلووظايفوپاتي دي، زموږته څه غواړي، ته پرېږدوچې په افغانستان کې دبنيادګرايانوخطرراولاړشي اودهغوي حکومت دې جوړشي، هغوي ورته پيسې چاپولې داپيسې دهمدې له پاره چاپ کوي دائي دخداي له پاره نه کول. دافغانانوله پاره نه، ددې له پاره چې دافغانانونه انتقام واخلي. متاسفانه چې دتاريخ په اوږدوکې تل په افغانانو کې داسې خلك راولاړشوي چې خپل ملك ،قوم ، دين ، عزت دائي ديرديو دپيسويه مقابل کې خرڅ کړي .

اودخپل قوم اودولس خلاف جنګېدلي، افغانانوکه شکست خوړلي دهمدغسي خلکوپه وجه چې قوم ئې خرڅ کړي اوديرديو دپوځ مخې ته دخپل قوم په خلاف جنګېدلي .

ورونو، دافتنه به خداي (ج) ختموي ، جګړې به پاي ته رسېږي، په افغانستان کې به سوله اوامن تأمينېږي اوان شاء الله ستاسو دخوښې اسلامي حکومت به جوړېږي ، راځي موږدلته چې دخداي (ج) له پاره راغونډشوي يو، يوځل بيا دالله (ج) سره تعهدوکړو چې ترڅو موږه افغانستان کې ستاکلمه نه وي اوچته کړي ، ستاحکومت مونه وي جوړکړي، اسلامي حکومت مونه وي قائم کړي او دافغان ولس دخوښې منتخب اسلامي حکومت مونه وي جوړکړي خپل جهادته به ادامه ورکوو . (دحضارودتکبيرکفرلړزونکي نعرې اودجهادبرادامې ټينګار)

ورونو، دافغانستان دبحران دحل له پاره زموږطرح اوپيشنهاددا دي چې جګړه دې ختمه شي، په يودائمي اوفوري اوربندي ټول اړخونه توافق وکړي،لوې لارې دې پرانيستلې شي، دتنظيمونوترمنځ دې په يوموقت حکومت توافق وشي، دخبرواتروپه نتيجه کې يوموقت حکومت جوړشي، دې حکومت ته دې اقتداروسپارلي شي، ددغه حکومت

> **دمخلصومجاهدينو دقربانيوپه نتيجه کې افغانستان آزادشو اودهمدغو مجاهدينو دقربانيو په نتيجه کې به الله (ج) د افغانستان روان بحران هم ختموي .**

داشراف لاندې دي دملت نه پوښتنه وشي، دملت رايي ته دې رجوع وشي، ملت چې په چا اعتمادکوي هغه دې راتلونکې حکومت جوړکړي ، هغه دې دمشراوزعيم په حيث ومنلي شي، ټول دې دهغه سره بيعت وکړي، دهغه مرسته دې وکړي ، ددغه مؤقت حکومت لاندې دې اسلامي اردوجوړشي، په دې ترتيب دې دافغانستان بحران حل شي، ټول تنظيمونه دې په دې تعهدوکړي چې له دې نه بعدبه دسازش له لارې قدرت ته درسيدلوکوښښ نه کوي، دامريکا اوروس په مرسته ، په قدرت کې دپاته کېدوهڅه به نه کوي، دتوپ ټانك له لارې قدرت ترلاسه کول، دکودتاګانوله لارې قدرت ته رسيدل داهڅه به نه کوي، له دې نه بعد به دحکومت دجوړولو يوازېني لارله ملت نه دتپوس لارې، الله (ج) داحق دوي ته ورکړي . قرآن په صريحوالفاظوداامامت وجيبه اوحق ګڼلي چې دامامت ، امارت اوزعامت دالوي او سترالهي امانت هغه چاته وسپاري چې ددې کارله پاره يې اهل ګڼي،په چاکې چې دااهليت ګوري دا امانت هغه ته وسپاري، داامانت به قوم سپاري، امت به ئې سپاري اودې امانت اهل به هم خپله امت تاکي ، قرآن همدغسې فرمايي :« ان الله يأمركم ان تؤدوا الامانات إلى اهلها » الله (ج) تاسوته امرکوي يقيناً په تاکيدسره امرکوي چې امانت اهل ته وسپاري چاته امرکوي؟ محدودوکسانوته اوکه ټول امت ته ؟ ماته ووایاست ؟ خطاب عام دي اوکه خاص ؟ قرآن صريحاً فرمايي ټول امت ته امرکوي، داالله (ج) امردي ، ته په دې مکلف ئې، خداي (ج) مکلف کړي ئې چې داامانت به هغه چاته سپاري چې ددې اهل وي، بس داامانت الهي امانت دي، ددې دسپارلووظيفه اوونده تاته سپارل شوي اوته به اهل ددې تشخيصوي اوهغه ته به ئې سپاري ، دادنخبه ګانو کارنه دي، دادخواصوکارنه دي، الله (ج) داحق دعوامونه خواصوته نه دي، سپارلي، په صدرداسلام کې دامیرانتخاب په دغسې په جومات کې وو، دغسې به خلك راغونډيدل چې په راغونډيدوئې کوم بنديزهم نه وو، دروازې به هم بندې نه وې، دټولو دروازوشاته هم نه وو، په پټو دروازو، په پټوخونوکې هم نه وو، دمحدودوکسانوترمنځ هم نه وو، هرهغه څوك چې تاته وايي چې دامیرانتخاب دخواصوکاردي داسلام په نسبت يولوي اتهام تړي دروغ وايي، هغه باید شريعت اوپه اسلام نه پوهېږي يا خودغرضه دي، اسلام داحق ټول امت ته سپارلي، زه تاسوته وايم چې کله ديوامیرخبره وه خوبه جومات کې خلکودعاکوي، راغلي هريوورسره بيعت کوي چې امارت له پاره کانديدان راپيداشو ماته ووايه چې صحابه وکومه لارغوره کړېده ، ددوي له منځ نه ئې يوڅنګه انتخاب کړي، کله چې حضرت عمر(رض) زخمي کېږي شپږکسان نامزدکوي چې ددوي له منځ نه يوامیرانتخاب کېږي ، خپل زوي ته وايي چې دعمردکورني نه يوکس کافي دي بس ته به دامارت له پاره کانديدنه ئې، ته په جرګې کې برخه اخيستلي شي خودامارت له پاره به کانديدنه ئې .

شپږوکسانونه څلوراستعفاکوي، ددووترمنځ خبره پاتې کېږي حضرت عثمان (رض) ، حضرت علي کرم الله وجهه ، ددوي ترمنځ څه کېږي فيصله څنګه کېږي؟ حضرت عبدالرحمن ابن عوف داپه ذمه اخلي دمديني دخلکونه تپوس کوي استفتاکوي، زموږتاريخ وايي، زموږراويان وايي،استفتاً کوي يعني رايه ګيري کوي داستفتاً فارسي ترجمه راي ګيري ده ، هغه له خلکونه تپوس کوي چې ددې دواړوکسانو نه کوم يوددې کارله پاره زيات اهل ګڼو، ګوري چې دمديني اکثريت حضرت عثمان (رض) دخلافت له پاره مناسب ګڼي راځي جومات کې اعلان کوي چې مادمديني داکثريت خلکونه تپوس وکړاکثريت دحضرت عثمان (رض) په خلافت راضي دي ددي معنې داده چې کانديدان راپيداشول نوبايداستفتاوشي، دصحابه ومنهج هم داوايي موږهم داوايو، جګړه دې اول ختمه شي، لارې دې پرانيستلې شي، تنظيمونومشران دې کېني په يوموقت حکومت دې صلاح شي ،يومؤقت حکومت ته دې داقتدارانتقال شي، بيادې مؤقت حکومت ترنظارت لاندې دخلکونه تپوس وشي چې دامارت اودزعامت له پاره څوك اهل ګڼي چې په چادقوم اکثريت اعتمادوکړهغه دې دامیرپه حيث اعلان شي دهغه سره دې بيعت وشي ورونو، زموږحل همدغه دي، مقابل طرف څه وايي، زه استعفانه کوم، مسلسل وائي که زه استعفا وکړم دقدرت خلاراپيداکېږي ، ددې له پاره اول بايدېوشوراجوړه شي څنګه شورا، انتخابي شوراته انتصابي شورابيابه دې شوراته استعفاکوم بيابه دغه شورا دائمي حکومت جوړوي، دمقابل طرف طرح همداده موږدهغونه تپوس کوو خوبرځل موږدغسي انتصابي شوراجوړه کړه مګرستاهغه دچل ول داهل حل اوعقدشورا هېره شوي؟ چې له دغوتنظيمونونه اووېي دهغه مخالفت وکړاوويل چې په دې کې چل ول شوي په دې کې پيسې مصرف شوي، خلك اخيستل شوي، ديوې ډلې دخوښې خلك راغونډشوي، ومولېدل چې دهغه شورانه بعدځومره خونړۍ پيښې راولاړې شوې ترداته پورې جګړې دې وجه ئې همغه شورا ده ، داشورا خوموږپوځل وآزمويله دادڅه تجربه يوځل بيانکرارول. ته داشورا دتنظيمونو شورا جوړوي، دخپلي خوښي شورا جوړوي که دقوم شورا، دقوم شورا څوکه وي بايد دقوم نه پوښتنه وشي، هغوي وايي چې دولايتونو دشوراګانوغړي راشي، موږ وايوچې په ولايتونوکې دي څوك معرفي کوي ماته وښيه هغه ولايت چې هلته دې ډېرلو له پاره دمنلوړشوراوي. قوم اوولس ته دمنلو وړشوراوي دهرات شوراهلته دااوس جګړه ده ، دبادغيس شوراهلته دااوس جنګ روان دي، دکندهارشورا ترېرونه پرې جګړه وه ، دپروان ،کاپيسا شورا دادي اوس هم هلته جنګ روان دي، دکابل شورا دا دوه کاله کېږي هلته جنګ دي. دمزار، جوزجان، ،فارياب، بغلان کومه شوراپه افغانستان کې چېرته داسې يوولايت دي چې هلته دې ټولوته دمنلووړشوراوي، نسبي دمنلووړشوراداوته په جلال آبادکې شته ، دادنورووولايتونوغړي به څوك معرفي کوي، والي به ئې معرفي کوي، ولسوالان به ئې معرفي کوي ، څوك چې په ښارونوکې دي هغه به يې معرفي کوي که څوك په کلي مسلط دي هغه به ئې معرفي کوي، ددوي ترمنځ به څنګه توافق راځي، فورمول اوتعامل څه دي، چې ددوي ترمنځ اختلاف ختم شي دادشوراغړي به څوك انتخابوي، څنګه به معرفي کېږي، دچاتمايندګي به کوي په تنظيمونو ئې ويشي، دهغوي هدف دادې چې په تنظيمونو باندې دويش له لارې دي شوراجوړه شي زه هغه ته وايم که ته دتنظيمونو شوراجوړوي بيا شوراته څه ضرورت دغاځورهبران دې کېني فيصله دې وکړي، که ته دملت شوراجوړوي خوانتخابات وکړه ، موږ وايودملت نه دې تپوس وشي، داسې شورادې جوړه شي چې ددې شوراله پاره بياوول دغسې يوحکومت جوړشي چې ټولوته دمنلووړوي ترڅوهغه حکومت دخپل اقتدارنه غلط استفاده ونکړي بيابه پېسو خلك وانخلي دخپلي خوښې خلك راغونډنه کړي اوبيا جګړې پيل نشي اول دې جګړه ختمه شي ، امنيت دې تأمين شي، عمومي سرتاسري اوربندي اعلان شي، لويې لارې دې پرانيستلې شي دټولو تنظيمونوترمنځ دې دتوافق له لارې . دتفاهم له لارې حکومت جوړشي، دې حکومت ته دې اقتدارحواله شي، بيا ددې حکومت ترنظارت لاندې له ملت نه پوښتنه وشي انتخابات دې ترسره شي اودملت دخوښې شورادې جوړه شي خوهغوي وايي چې که موږاستعفاوکړونودقدرت خلاراپيداکېږي .

زه تاسونه تپوس کوم تاسواوخداي (ج) آيااوس قدرت شته ؟(دحضاروغږونه ؟ نه) اداره شته ؟(نه ، نه) موږخوهمداوايوچې خلادقدرت ده ، حکومت نشته ، پوځ نشته ، پوليس نشته په ملك کې امنيت نشته ، سلطه اودسلطې دتفتيش له پاره اداره نشته . اول راشي داخلاډکه کړو حکومت جوړکړو، دخلاډکيدواوحکومت دجوړيدونه بعدبياشوراجوړه کړو .

خودغه رهبران چې نن داخبره کوي چې زما په موجوديت کې دې شورا جوړه شي اوکنه دقدرت خلارامنځته کېږي دوي به په نجيب پسې تمسخرکولو، چې اوويل به يې چې داڅومره بې عقلي خبره کوي . څنګه زه له تاسره داسې شوراومنم چې ته په کابل کې په قدرت کې پاتې وي اوشورادي جوړه شي ددې معنې څه ده چې دتادخوښې شورا به جوړېږي . تپوس به ئې کولوچې داشورا به په کابل کې جوړېږي که په خوست کې چې خوست آزادوي، خوست ته نشي راتلې جلال آبادته زه نشم درتلاي همداخبري به بې ورته کولي، دنجيب پردې خبرې پورې به بې تمسخرکولو خوزه حيران يم چې نن ربانې دنجيب خبره تکراروي چې که زه قدرت نه لاس واخلم خلا راپيداکېږي . اول دې شوراجوړه شي بيابه زه داشورا ته قدرت انتقالوم . زه وايم اول خوداخبري دتمسخراودخندااوخبره ده څکه ستاپه لاس کې قدرت نه دې چې ستاداستعفا په نتيجه کې خلادقدرت راپيداشي حقيقت امردادي چې خلادقدرت شته راشي دادقدرت خلاډکه کړو. ماته ووايه چې ستاتسلط چېرته دي زه تپوس کوم په دې ټول افغانستان کې ستاتسلط چېرته دي؟ دپايتخت په کوم ځاي کې خبرخانه کې هم ته مسلط نه ئې ،دکابل له دوولسوناحيوته په دريو ناحيوکې هم ته مسلط نه ئې دااوس ،اوس په چاريکار کې جګړه ده، هغه بله ورځ رئيس جمهورتلې داختر لمونځ ئې په چاريکارکې کړي، اوګه ته نشي راتلې، وزارت خانې بندې دي ، سفارت خانې بندې دي، هوائي ميدان قلج دي، رئيس جمهوراګه ته نشي راتلې، لويې لارې ورباندې بندې دي، پنځه موټرې دانډراب له لارې کابل ته رارسيدلي دي په دې چرچې جوړې کړي دي چې لاره موخلاصه کړه ،دانډراب نهرين له لارې پنځه موټره په يوه کچه لاره دغروتونه کابل ته رارسيدلي وايي موږلويه

(۷)مخ

درامتحان سالانهٔ مدارس دیارهجرت...

ورزیده اند. از صحن امتحان وارسی کامل صورت گرفته، توسط ممتحنین ومميزين كنترول ميگردد . برعلاوه استادان رسمي تعدادي ازدانشمنداني كه مهارت كافي در ساحه تعليم وتربيه داشته وعمر گران بهاي شانرا در تربيه اطفال وجوانان سپري نموده اند، بصورت افتخاري وداوطلبانه درپيشبرد اين مسئوليت بزرك اسلامي ما را همكاري كرده ازتجارب واندوخته هاي علمي شان درفرونشاندن عطش علمي شاگردان دريغ نورزيده، درنظارت ساحات امتحان نيز سهم شايسته مي گيرند.

خوبي صحن امتحان دراينست كه چون استادان دلسوز درطول سال تعليمي كوشيده اندكه درپهلوي درس مراقب فهم وبرداشت شاگردبوده با ارزيابي هاي صنفي وپاي بندي به وظايف خانگي ،شاگردان رامجبورساخته اند تا درطول سال درس هاي روزمره خودرا تعقيب نموده، مشكلات خويش رادر صنف حل نمايند، اين امر بذات خود ممد شاگردان واقع شده ، بارگران را از دوش شان برداشته وكمتراحساس خستگي ازامتحان مي كنند.

وهكذا مكاتبي كه در داخل كشور فعال است همه سرد سپربوده ،هنوز درس و تعليم جريان داشته امتحانات شان بعدها بروبت تكميل دوره سال تعليمي ،آغازمي گردد.

س - امتحانات سالانه شاگردان بكدام تاريخ شروع وبكدام تاريخ تمام ميشود وهم به چه تعداد مدارس ومكاتب ادرمحيط هجرت وداخل افغانستان داريد؟

ج - امتحانات همه مكاتب ،مدارس ودارالحفاظ ها به تاريخ ۳ جوزا آغاز گرديده است ، اماتاريخ ختم آن متفاوت است، زيرا دوره هاي ابتدائيه ودارالحفاظ هاكه مضامين شان نسبت به دوره ثانوي كمتر است، طبعاً تاريخ ختم امتحان شان نيز قبل از دوره ثانوي ميباشد. ولي امتحان دوره ثانوي مدارس ديني وعصري بتاريخ (۱۹) جوزا پايان مي يابد ، بنا گفته مي توانيم كه امتحانات جمعاً مدت شانزده روز دوام ميكند .

